# اندیز خوندیځ

(ټولنیزې لیکنې)

لیکوال : شاه محمود کهوال

۱۴۰۲ ل

# اندیز خوندیځ

( ټولنیزې لیکنې )

لیکوال : شاه محمود کهوال

۱۴۰۲ ل

بسم الله الرحمن الرحيم

## پیلیزه

دا اثر مې د تېرو په دوام په دې اندېښنه کې ترتيب کړ چې راتلونکې ډېره بې باوره ده او ليکلي اثار به مې دومره ناځرګند پاتې شي چې بيا پرې څوک کار ونه کړای شي. فکر مې وکړ ، که څوک مې په اړه څه ليکي ، زه بايد ورته يو څه مواد وربرابر کړم. که ژوند وو ، تر دې يې سم بيا خپروم.

دا اثر زما ټولنيزې ليکنې دي چې رنګارنګ اړخونه لري او د بېلابېلو اړتياوو پر بنسټ مې څه په خپل او څه په پورنومونو يا مستعارو نومونو ليکلي ، ځينې يې خپرې شوې دي او ځينې يې نه .

د ليکنو بيا سمون وخت غوښت او زه په دې وخت کې ډېر د ستړيا او بوختيا احساس کوم ، ځکه مې له سمون ډډه وکړه او په لومړنۍ بڼه يې خپروم.

درنښت

شاه محمود کډوال

۱۴۰۲ / ۳ / ۲۴

## بغلان پوهنتون او ملي مشارکت

عبدالرحمن ( شمالخیل )

بغلان پوهنتون د هېواد له ملي ښوونیزو ادارو څخه یو دی چې نږدې لس کاله کیږي په رسمي توګه فعالیت کوي ، ډېر وخت یې غیر رسمي فعالیت کوه . په لسګونو استادان ، مامورین او په زرګونو محصلین لري . څلورو رییسانو پرې تراوسه خپل ریاست چلولی او اوس پینځم پرې خپل راج چلوي . دا پوهنتون په یوه داسې وخت کې جوړ شوی چې په هېواد کې واحده اداره نه وه او بېلابېلو سیمو خپل شاهان درلودل . د همدغو سیمه ییزو شاهانو په وسیله رامنځته شوی دی .

نږدې هر رییس چې دلته ګمارل شوی ، ښه په مړه ګېډه یې خپلې قومي ډلې غښتلې کړې چې د هغې په مرسته خپل ځان خوندي کړي . دا کار زموږ اوسني رییس ته هم په میراث پاتې شو او دی پکې څو قدمه وړاندې لاړ . پخوانیو رییسانو یوازې په کادري برخه کې خپل قومیان ګمارل ، په ژبنیو ، دیني او سیمه ییزو توپیرونو کې ډېر او ښکاره بوخت نه وو ، خو اوسنی بیا غوځ دریځ لري او پرېکنده سړی دی . غوځ او پرېکنده په دې مانا چې ټول هېواد یوازې د خپل ځان او کلیوالو بولي .

ښاغلی پوهنیار (؟) امان الدین ضیایي چې ویل کیږي اوس اوس یې په جرمني کې ټکسي ګاډی چلوه او پخوا د داکتر نجیب الله پروخت ، په کابل پوهنتون کې د واکمن نظام او سیاسي بهیر ( پرچم ) ډلې د ناحیې د تشکېلاتو مسوول ، مرستیال او واکیال وو ، د ګوند د اغیز ، برلاسۍ او نفوذ لپاره هلته د کرنې په پوهنځي کې استاد وګمارل شو او نامزد پوهیالی له هېواده وتښتېد . لږ تر لږه دومره میړنی هم نه وو چې د خپل نظام او ګوند لپاره تر وروستي بریده وجنګېږي ، خپل ملګري یې د جګړې په ډګر کې پرېښودل او د ځان ژغورنې لپاره جرمني ته وتښتېد . بېرته د بهرني کادر او ملي مشارکت تر نوم لاندې ، په جعلي کادري اسنادو سره پر بغلان پوهنتون د رییس په توګه راوتپل شو . تر اوسه مې نه په یادېږي چې دې ښاغلي د کرنې په برخه د جرمني هېواد د یوه ماسټر په توګه ، کومه ورځ د کرنې په پوهنځي کې تدریس کړی وي ، که په کال کې کومه ورځ ، د استاد د نوم ساتلو لپاره ټولګي ته لاړ هم شي ، اوتې بوتې وایي ، د خبرو په بهیر کې تل له خپلې ګېډې غږېږي ، تر اوسه یې یوه کوچنۍ علمي مقاله هم لیکلې نه ده ، علمي لا څه چې یوه عادي لیکنه هم نه لري . خو خپل ځان یې دومره خوښ دی چې پوښتنه مه کوه . دا ښاغلی پوهنتون ته تر راتګ وروسته موږ ښه وپېژانده ، د هېواد په هېڅ ارزښت باور نه لري او ښه په سپین سترګۍ سره د هېواد ارزښتونه سپکوي . له استادانو ، محصلینو او له پوهنتونه د باندې ، ملي ، اسلامي او دیني مقدساتو ته سپکاوی کوي . قرانکریم ته ( اساطیرالاولین ) وایي ، له خلکو غواړي چې نویو کیسو ته شي ، د نجونو اسلامي حجاب ته میکروب وایي او په پوهنتون کې اسلامي نښې نښانې نه پرېږدي ، که څوک غواړي په پوهنتون کې دننه واخلي او ږیره ولري ، نو الله (ج) دې یې مل شي ، که له ږېرې سره عامې ملي جامې او پښتو یوځای شوه ، بیا نو سور کافر دی او نورې داسې خبرې چې زه یې په لیکلو شرمېږم ، دی په هماغه فورمول روان دی چې وایي "ږېرې والا غل دی" . د دې ټولو اسناد شته او تر دې چې د بغلان سیمه ییزو رسنیو پرې راپورونه جوړ کړي دي .

نږدې دوه کاله  کېږي چې ښاغلی ضیایي په موږ واکمني کوي  ، له راتګ سره سم یې شعار داوو چې موږ باید  د پښتنو له واکمنۍ او استبداد څخه ځان وژغورو ، هغه  د خپلو پلرونو  او نیکونو خبره یې کوله  ، په ټولیز ډول د اسلام  ، افغان او پښتون  سره ښه په نره او ښکاره دښمن دی  ، خو په چایې منې ؟  ډېر محصلین په دې وډبول شول او استادان سپک او ورټل شول چې ولې دریشي نه اغوندي ، هره ورځ د پولیسو ، استادانو او محصلینو ترمنځ شخړه  وي ، دی بیا هم په دې ټینګار کوي چې ( من این لباس اشرف غني احمدزی را از دانشگاه ګم میکنم ) د ده موخه  د اشرف غني احمدزي له جامو څخه زموږ عامې او ملي جامې دي چې داکتر اشرف غني احمدزی یې هم معمولا اغوندي ، دا په داسې حال کې ده چې زموږ ډېر محصلین له ډېرو لیرو کلیوالو سیمو څخه راځي چې په ډېرو سیموکې د دولت مخالفین برلاسي دي او دا چې  هغوی  دریشي ته په کوم نظر ګوري تاسې پوهېږئ .

موږ په لومړي سر کې داسې فکر کوه چې دا ښاغلی ( ضیایي ) یوازې  اسلام ، افغان ، افغانستان او  پښتنو سره تربګني او تربورولي لري او له نورو قومونو سره به ښه وي ، خو له ټولو سره وران او دښمن  دی ، یوازې خپل کلیوال ، ولسوالۍ او څه ناڅه (پرچم) مني ،  نور خپل ولایت هم نه مني . له ګمارنې راوروسته یې خپل لسګونه کلیوال په کادري او اداري برخو کې په دندو وګمارل او اوس هم دا لړۍ ښه په درز کې روانه ده  . هر کال چې نوی شي او نوي بستونه راشي ، نو خپل کلیوال پوه کړي چې راشئ ، کوم  یو که  د خپل کوم مرستیال ، چارواکي ، وکیل یا نورو د خوښۍ او رضایت لپاره وګماري ، نور ټول بستونه خپل کلي ته وړي . د خپلو کلیوالو د ګمارنې لپاره  بېلابېل ناقص فورمولونه  پنځوي  چې د نورو هېوادوالو مخه ونیسي او خپل کلیوال  وګماري  ، کله  وایي محلي او سیمه ییز کادرونه  په کار دي او کله  هم  نورې پلمې . د افرادو د ګمارنې په برخه کې نږدې نور ټول قومونه په یو نه یو ډول خپله برخه وړي . غوښنه برخه د رییس  او د هغه د کلیوالو وي ، ډېره لږه د نورو قومونو ، هغه هم چې زور او زر ولري ، خو " پښتون غریب برباد " . ډېره د خواشینۍ خبره خو داده چې پر کابل ناست ، د ملي مشارکت تر فورمول لاندې راغلي ،  ځینې بې پښتو غربي او پرچمي پښتانه چارواکي ، له ده ( ضیایي )  نه ښه په نره ملاتړ کوي او کله چې کوم پښتون ، د افغانیت له لیدلوري نه پر ښاغلي رییس نیوکه کوي ، نو همدا بې پښتو پښتانه  یې دفاع ته رادانګي . که په دوی کې یو څاڅکی وینه هم د افغان او پښتون وي ، نو لږ تر لږه په دا خپل ملګري ( ضیایي ) خو دې یو غربي او پرچمي پښتون په لوړو څوکیو کې وګماري ، نور ( خلق ، حزب اسلامي ، افغان ملت او یونخیل ) خو د هندوستان له ځنګلو راغلي مهاجر یا یهودان دي چې په دې هېواد کې یې ځای نه شته !!!

زما د مالوماتو پر بنسټ  ، بغلان پوهنتون  یو رییس  ، دوه مرستیالان  ، شپږ د پوهنځیو رییسان او نورې بېلابېلې مهمې څوکۍ لري . د دوی په منځ کې یو هم  پښتون نه شته او کور یې وران دی . په داسې حال کې چې پښتانه کادرونه که له چانه ډېر نه دي ؛ کم هم نه دي ، خو داچې" وطندوست دی ؛ وطنفروش دی  "  چې " مسلمان دی ؛ تروروست دی " !!! .

زه حیران یم  دا د ښاغلي منتخب  جمهور رییس کرزي  د ملي مشارکت فورمول ته چې یو  خو د جرمني یو ټکسي چلوونکي ته  ، په  ډېرو بدو خصلتونو او ناپوهۍ سره ،  دومره ارزښت ورکوي چې په هېواد کې د یو پوهنتون رییس شي

او یو پوهنتون وچلوي ، کېدای شي  پوهنتون هم ټکسي وي ؟ بله دا چې په ملي ادارو کې د پښتون نه گمارل ، همدا به د ملي مشارکت  مانا وي که څنگه  ؟  موږ خو دا ملي  مشارکت  په بغلان پوهنتون کې ونه لید .
په پوهنتون کې د لوړو ځوکیو ترڅنگ نورې بېلابېلې ځوکۍ هم شته چې مهم کارونه تر سره کوي ، د بېلگې په توگه یوه یې هم د بهرنیو هېوادونو لپاره  د بورسونو د ویش  کمیټه  ده  چې هلته یې هم ټول داسې افراد گمارلي چې خپل د خوښې افرادو ته د بورس امتیاز ورکړي ، یانې لومړی  حق  د ده د کلیوالو بیا بیکاره او ناچاره بورس نورو ته  ، خپل یو کلیوال  یې نږدې لس ځله د بورس په امتیاز کې واستوه ، خو ناکام شو . که چانس او بورس سوځې او یو نالایق ورلېږی ، هېڅ پروا نه شته ، ځکه د ده سړی دی ، که یو بل استاد بریالی کیږی  هم  ، نو جناب ( ضیایي ) یې بورس  ته نه استوي ، ځکه پردی دی ، په درد یې نه خوري ، که پوهنتون ته په درد خوري د ده ( ضیایي ) یې پرې څه  ؟
په دغو ټولو ستونزو ، د ولایت والي ، ولایتي شوراء  ، ولسي جرگه   ،  د لوړو زده کړو وزارت  او  ښاغلی وزیر پوه دي ، خو غوږ پرې نه گروي ، ځکه د افغان ـ شوروي د جهاد اتل مارشال صاحب خپه کېږی . موږ نږدې  په لسگونو استادان  تر کابله  د ښاغلي وزیر مقام  ته حاضر شولو ، د ولسي جرگې ور مو وټکاوه  ، خو په ولسي  جرگه کې ناستو ، د بغلاني ولس استازو او د رییس کلیوالو او د ده مفکوروي انډېوالانو ، زموږ هر څه په سیند لاهو کړل . د ښاغلي کرزي فرهنگي مشاور ښاغلی استاد هېوادمل  مو پرې وپوهاوه  او لیکلی اعتراض مو ورکړ  ، اعتراض یو ملي او د استادانو علمي اعتراض وو ، یوازې د پښتون نه وو ، خو هغه  مو هم  پوښتنه ونه کړه  . اوس چې د الله (ج) بندگان او چاروکي زموږ عرض نه اوري  او خپل ورونه  یې زموږ  پر مخ ترلي دي ، یوازې او یوازې هغه  سترځواک (ج)  ته مو سترگې دي چې که راباندې لورېینه وکړي او په دې فکر یو چې " د ظالم او جابر واکمن پر وړاندې حق او رښتیا وینا ستر جهاد دی ". او خپل دا فکر غځوو.
یادښت : دا لیکنه د ( لوی افغانستان ) د اوونیزې د لومړي کال په دیارلسمه گڼه کې خپره شوې ده.

## بهرني او کورني پنجابیان

شکرالله ( باتور )

گران هېواد له رامنځته کېدو راپدېخوا ، له گڼو ستونزو او گواښونو سره مخ دی . سیمې ته د نړۍ د لویو هېوادونو پاملرنه ، د دې لامل شوه چې هېواد د بېلابېلو مستقیمو او نامستقیمو یرغلونو لاندې راشي . انگریزان ، روسان ، فرانسویان ، عربان ، ایرانیان ، پنجابیان او نور چې د یرغلگر  نوم  ورکول ورته لږ وخت غواړي .
د میړني هېواد میړنیو بچیانو په ټولو مستقیمو بریدونو کې یرغلگرو ته سخته ماته ورکړه او تس نس یې کړه ، داسې ماته چې هغوی د خپل تاریخ برخه وگرځوله او هغوی یې اړ باسل چې خپلو تگلارو ته بدلون ورکړي .
له بده مرغه بهرنیانو وکولای شول ، له بېلابېلو لارو نه په گټنې ، او د امتیازونو په ورکړې سره ، زموږ ځینې هېوادوال خپل استازي کړي چې د دوی د گټو د ساتنې په موخه په هېواد کې دننه په بېلابېلو ځایونو کې کار وکړي ؛ جومات  ، ولس ، نظام او نور تر خپل اغیز لاندې راولي او په دې توگه زموږ هېواد راځنې ونیسي . زموږ د هېواد د نیولو لپاره ، له ډېر اوږد او پخوا مهال  راپدېخوا سترې سترې پروژې په کار اچول شوي دي او روانې دي چې یوه کوردننه د بهرنیو استازو روزل دي . د هېواد  بهرنیو دښمنانو وکولای شول ، د ټولنې په هر پاړکي کې خپل استازي بیامومي  ، تر دې چې د دین برید

ته هم ورننوتل ، ځینې خپل صادق استازي یې له بهرنیو هېوادنو دلته راوستل او زموږ په هېواد او ټولنه کې یې د روحانیونو تر نوم لاندې په ولس ور وتپل ، ځکه ولس مسلمان دی او خپلو دینو چارو ته ډیر پام کوي .
بېلابېل بهرني استازي چې له بده مرغه اوس د افغان تذکره هم لري ، ډیر بد او خطرناک دي . ولس پردوی د روحاني شخصیت ، ملا ، قاضي ، استاد ، داکتر ، حاجي ، وکیل ، سناتور او نورو نومونو لاندې باور کوي او دوی خپل کار ، یانې بهرنیو ته خدمت . دا د بهرنیانو کورني استازي د انګریزانو ، روسانو ، ایرانیانو ، پنجابیانو او نورو ټولو یرغلګرو سره وو او اوس هم همدا موضوع تکراریږي.
ټول هېوادوال پوهېږي چې د بهرنیو فشارونو ، چلوټیو او زموږ د خپلو نیمګړتیاوو له امله زموږ د هېواد ډیرې برخې رانه ګاونډیانو ونیولې ، له ډېورنډ اخوا پراخې سیمې ، پنجده او د ایران سره په برید کې سیستان او نور . د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې د ګاونډیو هېوادونو تیري او ناروا کړنې د هیریدو نه دي ، هیڅ یو هېوادپال افغان دا هیرولی نه شي ، که بهرنیان خپلو یرغلونو ته هر جواز ورکوي ؛ موږ ته یوازې او یوازې یرغل دی او بس .
په اوسني وخت کې ، که څه هم د سترو هېوادنو رحم راباندې شوی نه دی ، څه چې یې خوښه وي هغه راسره کوي ، خو ډیر رنځ راته له ګاونډیو پیښې دی . په ګاونډیانو کې بیا ایران او پاکستان چې موږ ته په سرطان ګرځېدلي دي .ایران د هېواد له ویجاړوونکو څخه یو ستر هېواد دی چې له پاکستانه یې ونډه لږه نه ده ، په هېواد کې مذهبي ، ژبني ، نژادي او سیمه ییزو توپیرونو ته لمن وهل د دوی ډیره پخوانۍ دنده ده چې دا موضوع هم پراخه څېړنه غواړي ، خو موږ د موضوع د راټولولو په موخه د پنجابیانو او پاکستان لور ته ځو :
پاکستان چې غوره ده پنجابستان ورته ووایو ، هغه هېواد دی چې یوه لویه برخه یې د افغانستان پر ځمکه پروت دی او دا ځمکه موږ نه په زور نیول شوې ده او موږ به یې هم بیرته په زور نیسو ، د سر او وینو په ارزښت ، نن شو ، که سبا .
د پاکستان هېواد دوه انسانان ، افغانان ورونه سره جلا کړه او د یو ستر بشري ناورین زېږوونکی دی ، پاکستان د دوو مسلمانانو ورونو ترمنځ یو برید دی ، پاکستان هغه هېواد دی چې خپل شتون او نیکمرغي د نورو په نابودۍ او بدمرغۍ کې ګوري . دا هېواد هیڅ طبیعي او ایډیالوژیک بنسټ نه لري ، د اوبو په سر ولاړه کاغذي کشتۍ ده چې ژر به ډوبه شي .
له پاکستانه د خیر او ملګرتوب هیله ناپوهي ده ، پاکستان سره داسې هیڅ انساني او اسلامي معیار نه شته چې د هغې پربنسټ ترې د ښو تمه وشي . د پاکستان بنسټ پنجابیان دي او د پنجابیانو غیرت ، میړانه او د ژوند تګلاره ټولو ته څرګنده ده . وایي کله چې د پاکستان د پنجاب پر پنجابیانو روژه راشي ، نو وایي ( پټان جانې ، رمضان جانې ) . په دې مانا چې ( پښتون پوهېږي او روژه ) په پنجابیانو روژه نه شته . دا د پنجابیانو په فولکلور ، اروا ، ادب او فرهنګ کې اخښل شوی توکی دی چې د دوی د ژوند ښه انځورنه او هنداره ده .
د پنجاب ښارونه خو پرېږده ، کلیوالو سیمو ته یې چې ورشئ ، داسې کلی به پیدا نه کړې چې هلته د اخلاقي فساد لپاره ځانګړی ځای نه وي ، د دینپالنې او عبادتونو په برخه کې خو یې ښارونه بیا ښه دي ، یوه جمعه او بله جمعه ورځ یې جوماتونه ښه ډک وي ، ځکه د ( جمعه ګل ) زامن دي . که پینځه وخته یې د کلیوالو سیمو جوماتونه وګورئ ، فکر به وکړئ چې په یوه کفري هېواد کې یاست ، له قانوني ، دولتي او رسمي چارو یې خو ټول خبر دي ، د دې ټولو سره سره

بیا هم ځانته ( جمهوریه اسلامیه پاکستان ) وایي . څومره مذهبي ډلې او دینونه چې په افراطي بڼه په دې هېواد کې دي ، فکر نه کوم ، په بل ځای کې به وي . زما ښه په یاد دي چې له دوه زروم میلادي کال نه وړاندې په لاهور کې یو سړي د پیغمبرۍ دعوه کړې وه ، هر ورځ به رسنۍ په همدې موضوع غږېدلې ، دولت خو د دې سړي خپل وو ، ولس یې هم یوه ورځ پر وړاندې غبرگون ونه ښود ، مانا دا چې ولس یې هم خپل وو . هره ورځ همدا د فساد کیسې دي اودا چټلستان ، د دې ټولو سره سره ، موږ ته اسلام رانښیي .
له بده مرغه زموږ په هېواد کې دننه په خپل کور کې راته داسې انسانان پیدا شول چې د پاکستان غوندې یو بې تاریخه هېواد له گټو ساتنه کوي . شرم ، حیا ، د مېړني افغان ځلانده تاریخ او هر څه یې هیر کړي او د یو څو پیسو او مقام قرباني کړي یې دي . څه وخت وړاندې له پاکستان سره د ډېورند کرښې موضوع ډېره گرمه شوه ، د گرمېدو لامل یې له پنجابیانو سره د افغان پوځیانو جگړه وه چې قاسم خان د هېواد او ناموس د ساتنې لپاره ، د دښمنانو گولیو ته سینه ډال کړه او د هغوی ناولې گولۍ یې پرې نښودې چې د هېواد په سپېڅلې سینه پریوځي او شهید شو ، ویل کیږي چې افغانانو په ډېرو لږو شونتیاوو سره ، پنجابیانو ته خپل غیرت او مېړانه وښوده ، خو ژاړم کورنیو پنجابیانو ته !!
الله (ج) دې ټول افغانان ژوندي لري ، خو ننگرهاریان او ختیځوال پخپله ځمکه د پنجابیانو د برید او خپل گلاب ، زوی او ورور د شهادت له امله ، له کورونو راووتل او خپله کرکه یې له پنجابیانو او پاکستانه څرگنده کړه . دا موضوع نورو سیمو ته هم پراخه شوه ټولو خپل غبرگون وښود ، خو هغه سیمې چې د شمالي ټلوالې او نظار شوراء تر اغیز لاندې وې ، په دې بهیر کې جلا او غلې ښکارېدلې ، ملت غوښتل چې غبرگون وښیي ، خو له ټوپکیانو او کوتکیانو ویریدل ، دا یوه ملي موضوع وه ، ټول ملت پکې گډ وو ، یوازې شمالي ټلواله پکې نه وه ، ځکه هغوی د ملت نه وو او نه دي .
د ټلوالې قوماندانانو داسې ویل چې دا موضوع یوازې د پښتنو پورې تړلې ده ، دوی پوهېږي او غبرگون یې ، لږ تر لږه د لاریون اجازه یې هم نه ورکوله . دا یو داسې وخت وو چې رسنۍ هم په دې موضوع ورننوتې وې او هر کارپوه به د خپل نظر څرگندونه کوله ، له نیکه مرغه ډېر د ولس او هېواد په گټه وو ، لږ شمیر یې د پنجابیانو په استازۍ غږېدل . یو ښاغلي خو به له یوې رسنۍ سره په مرکه کې په دې ټینگار کوه چې له اوږد مهال راهیسې د ډېورند په موضوع څېړنه او لیکنې کوي او دې پایلې ته رسېدلی چې د هېواد د ټولو بدمرغیو لامل همدا ډېورنډ کرښه ده ، باید ژر تر ژره رسمي شي ، په همدې توگه ځینې نور چې د پښتنو په رایه یو بریالی ، عراقی روحاني وکیل ( اسحاق گیلاني ) هم د دې کورنیو پنجابیانو په ډله کې ورگډ وو او د ای ایس ای په گټه غږېده .
موږ دې ته سترگې په لار وو چې په شمال کې یو خوځښت پیل شي ، خو د قوماندان عطا او نورو پوځي بهرنیو استازو له لوري ټول پوه کړای شوي وو چې د هېواد د دفاع او پاکستان غندلو په موخه به هیڅ ډول لاریون او خوځښت نه تر سره کیږي . دا د هماغو خلکو غوښتنه وه چې تل یې د پاکستان پر ضد نارې وهلې او هغه یې خپل دښمن باله ، خو کله چې ملت له پاکستان سره په جگړه شو ، دوی شاته شول ، بیا یې هم ځان وښود چې د هېواد او ملت سره ولاړ نه دي او په هېواد کې د بهرنیو استازي دي ، کله د روس ، کله امریکا ، کله ایران او کله د پاکستان او پنجابیانو .
فکر کوم لومړی خوځښت د بغلان پوهنتون محصلینو د رییس ( امان الدین ضیایي ) تر سختو گواښونو لاندې ترسره کړ ، د رییس غوښتنه هم همدا وه چې لاریون ونه شي . د نورو سیمه ییزو چارواکو د چوپتیا سره سره یې عمومي چوپتیا

ماته کړه  او د ملت د غوښتنو سره سم  ، د افغان د دفاع او پنجاب غندلو لپاره ستر لاريون وشو . د محصلينو په وس کې همدا وو چې يې وکړل ، الله (ج) دې ژوندي لري . د خوښۍ ځای دا وو چې محصل پښتون نه وو ؛ بلکې ټول ملت او ټول قومونه ، هټيوال ، سوداګر ، چلوونکي کارګر او د ښوونځيو زده کوونکي ورګډ شول ، د شمال چوپتيال يې ماته کړه او د ټلوالې غوښتنه يې ونه منله . د لاريون ګډونوالو د ( ژوندي دې وي د هېواد ملي امنيتي ځواکونه )  او ( مرګ پر ای ايس ای او پنجابيانو ) شعارونه ورکول او په ګرمو احساساتو او ولولو سره په ښار کې وګرځېدل . د امنيتي ځواکونو غړو چې وړاندې  ويرول شوي وو ، د خپلو ځانګړو کمرو په وسيله د لاريون انځورونه او فلمونه اخستل چې له امنيتي ځواکونو څخه د ولس رضايت او خوښي خپلو مشرانو او چارواکو ته وروښايي ، په دې توګه ولس ته شرمېدلي کورني پنجابيان بيا وشرمېدل .

د دې اسلام دښمنه او افغان دښمنه اړخونو منطق دادی چې که چيرته ډېورند ، له منځه لاړ شي او د لر پښتانه  له برو سره يو شي ، نو پښتانه به ډېر شي او ټول هېواد به ونيسي او نور قومونه به هېڅ شي ، د همدې لپاره له انګريزانو  او پنجابيانو سره په يو سنګر کې ناست دي او له افغانانو سره جنګيږي ، په داسې حال کې چې همدا اوس هم  پېښور او کوټه  له افغان قومونو نه ډکه ده او يوازې پښتانه پکې ميشت نه دي .

ډېره بدمرغي ده چې د پنجاب د ای ايس ای د يوه  غړي  او زموږ د  وکيل ، داکتر ، استاد ، ملا  او نورو نظر سره په ملي مسايلو او بيا ډېورنډکرښه کې  ورته وي . هغه خبره چې په اسلام اباد کې يو پنجابی د خپلو ګټو لپاره کوي ، په کابل کې ناست يو ښاغلی هم هماغه زمزمه کوي . موږ غواړو هغه چاته ووايو چې د ډېورند رسمي کېدل غواړي چې پنجابيان د ټول افغان هېواد نيول غواړي ، افغانان غلامول غواړي ،  د افغان هېواد له انرژۍ او کانونو ګټنه او خپلول غواړي ، ځان لويول غواړي . د طالبانو پروخت يو چا راته يادونه وکړه چې پنجابيان وايي ، تاسې افغانان تيروتي ياست ( د افغان خاوره تر اټکه نه ؛ بلکې ته مټکه " پروان " ده  ) . افغانستان له  مټکه بره دی  ،  لر پنجابستان دی .

موږ خپلو کورنيو پنجابيانو ته دا ويل غواړو چې که تاسې په دې شک او ويره کې ياست او فکر کوئ چې له ډېورنډ اخوا پښتانه دي او له هېواد سره په يوکېدو به پښتانه ډېر شي ، نو راځئ ! داسې به سره ومنو چې هغه وګړي به له هغې خاورې وباسو ،  د هېواد په بله سيمه کې به يې ځای پر ځای کړو  ،  هلته به ستا قوم  ځای پر ځای کړو ،  که  دا هم درته ګټوره نه ښکاري  او بيا هم د پښتنو شمير په نظر کې نيسې ، نو لږ تر لږه  د ځمکې لپاره  خو وجنګيږه  ، کېدای شي تاته هم پکې څه در ورسېږي ، په هغه صورت کې چې افغان اوسې . د دې تر څنګ دا هم مه هيروه چې نه دی  توره کړې  او نه به يې وکړي ، هسې خپل چارج مه ختموه . مهرباني وکړه ، که د افغانيزم  بوی هم درباندې لګېدلی وي او په څو ليتره وينه کې دې  يو څاڅکی هم د افغان وي ، پر کابل ناست د اسلام اباد او پنجاب استازيتوب مه کوه ، ستا په دې پوهه دې اور ولګي چې د افغان ولس په ګټه نه وي  ، ته دومره سپين سترګی يې چې د نړۍ تر ټولو ميړني او غيرتي ولس په منځ کې ، د دښمن په لوري ولاړ يې او د دښمن په ګټه زما په ټپي سينه مالګې دوړوې ، هغه سينه چې ستا بادارانو ټپي کړې ده . ستا  او ستا د بادارنو ګټه په همدې کې ده چې موږ پخپله ځمکه خپل اختيار ونه لرو ، خو مه هېروه !

ډېر ژر به ستا په څېر د بهرنیو او پنجابیانو استازي وپېژندل شي ، د خاورو لاندې  او یا به خپل اصلي هېواد (پنجاب ) ته وگرځي . دې ته دې هم پام غواړم چې د هر ډول بې ننگۍ او بې شرمۍ منلو سره سره  به بیا هم ستا  کاغذي او پلاستیکي هېواد د ډېر ژر د نړۍ له نقشې   ورک شي او ته بې دینه به بې وطنه هم شې .
یادښت : پورتنۍ لیکنه د ( تحریک ) مجلې په لومړۍ گڼه کې خپره شوې ده.
یادښت : لیکنه د ( تحریک ) مجلې په لومړۍ گڼه کې خپره شوې ده.

## پښتو زده کړه یوه اړتیا

ژبه د و گړو ترمنځ د پوهاوي غوره وسیله ده ، چې تر نورو هغو یې ارزښت خورا ډېر دی . ژبه د وگړنیو فکري او ذهني ښکارندو د لیږد اغېزناکه لاره ده ، چې د نړۍ ټولې ژبې له یادو ځانگړنو برخمنې دي . پښتو ژبه هم له هغو یوه ده .

پښتو ژبه په لیکني او گړني ډگر کې ، د ویونکو د هر ډول غوښتنو، پوښتنواو ستونزو د بشپړونې جوگه ده . پراخه ویپانگه یې د هر دول ذهني او عیني ښکارندو د نومونې وړتیا لري او له نورو ژبو څخه جلا ځانگړې جوړښت لري .

د پښتنو دښمنان چې په بېلابېلو لارو له دوی سره دښمني کوي ، یوه یې هم د دوی د ژبې د پرمختک مخنیوی ، سپکول او له منځه وړل دي ؛ هغه هم د دوی پخپله خاوره او ځمکه کې . دوی پخپلو ویناوو او لیکنو کې هڅه کوي ، چې د پښتو ژبې ملي ، رسمي دریځ کمزوری ، ټولنیز ارزښت یې کم او په پای کې له منځه لاړه شي . که څه هم ، د دوی هڅې تل له ماتې سره مخ شوي ، خو بیا یې هم هڅې د افغاني ټولنې د کړکېچونو په ډېرولو کې بې اغېزې نه وې  او یو شمیر لوستي او نالوستي ناپښتانه افغانان یې د خپلو ملي او رسمي مسوولیتونو پر وړاندې بې پروا کړي دي ، چې په دې توگه خپل ځان او ټولنه دواړه زیانمنوي .

لویه بدمرغي خو داده ، چې تر ډېره لوستي ناپښتانه افغانان چې افغاني ښوونځي او پوهنتونونه یې لوستي ، په پښتو ژبه نه پوهېږي ، له نالوستو به څه گیله کوو . بلخوا هغوی چې په بهرنیو هېوادونو کې زېږېدلي  او سترشوی ، خو ښه پلمه لري .

که په افغاني ناپښتنو کورنیو کې ، پلرونه او میندې ، د خپلو کوچنیانو پام دې ته راوگرځوي او ویې هڅوي چې پښتو زده کړي ، بې له شکه چې زده  کوي یې  ، یا په ښوونځي کې اویا له وگړو اوټولنې  ، خو له بده مرغه کورنۍ هم دې اړتیا ته هیڅ پام نه کوي ، همدا دی چې کوچنیان یې نیمگړي افغانان رالویېږي .

یوه ورځ زما یو ناپښتون ملګري ، چې څه ناروغي ورپېښه شوې وه ، له ما وغوښتل چې د ناروغۍ د درملنې لپاره ورسره پېښور ته لاړ شم ، ما ترې وپوښتل چې ولې ما له ځان سره بیایې ، هغه راته وویل ، ژبه ( پښتو ) مې زده نه ده ، ناشونې ده چې ګونښې او پخپله لاړشم ، کېدای شي پولیس مې وځوروي ، له بلې خوا له ډاکترانوسره هم په ژبه نه پوهېږم .

زما او د هغه په څېرو کې کومه ځانګړې نښه نه وه او نه هم زما په تندي لیکلي وو (پښتون ) او نه د هغه ( تاجک ، هزاره او ازبک ... ) . یوازې توپیر مو په دې کې وو چې زما پښتو زده وه ، هغه چې د پېښور ژبه ده . که زما د دغه ملګري پښتو زده وای ، نو د افغانستان په ارته او پراخه سیمه به بې غمه او بې اندېښنې ګرځېده او کوم ژباړن او مرستیال ته به یې اړتیا نه پېښېده .

د یوې ملي ، رسمي او ټولنېزې اړتیا په توګه ، په کار ده ، هر افغان چې د هېواد په هره سیمه کې اوسي ، د هېواد ارزښتونو ته پام سره ، د هېواد ملي او رسمي ژبې زده ولري ، چې له یوې خوا یې خپل ملي او رسمي مسوولیت پوره کړی اوسي او له بلې خوا یې ټولنیز ژوند له خنډ سره مخ نه شي .

یادښت : لیکنه د بغلان د ( تګ ) په مجله کې خپره شوې ده.

**پوهنتونونه او غوبلونه**

نورالدین بکتاش

هغه وخت چې په څلورمه لسیزه کې سیاسي ډلې او غورځنګونه راڅرګند شول ، هرې ډلې په افغان ولس کې خپل شعوري او عملي کار پیل کړ .له بده مرغه یو شمیر دغه سیاسي ډلې د افغان هېواد او ولس پنځونه نه وه او له باندې په موږ راوتپل شوې . یا په بل عبارت ، څېرې زموږ خو فکرونه د بل وو . سیاسي ډلو د بیلابیلو لارو او تکتیکونو په راخپلولو د ټولنې وګړي راخپل کړل ، چا لږ او چا ډېر ، خو په یو ډول یې په افغانانو کې ځای ونیو .

ناورین له هغه وخته پیل شو چې یو شمیر افغان دښمنه سیاسي ډلو او غورځنګونو د هېواد ملي بنسټونو ته لار ومونده او هغه یې تر خپل اغېز لاندې راوستل ، چې مهم بنسټ یې ملي پوځي ځواکونه وو . ملي اردو ، ملي پولیس ، ملي امنیت او نورې ملي پوځي او امنیتي برخې . په پایله کې افغان ملت له داسې حالت سره مخ شو چې دین ، سر ، مال ، ناموس ، هېواد او هر څه یې له ګواښ سره مخ شول ، ننني بدحالت هم د تیر ناورین بهیر او پایځوړ دی .

ځینو پردیپالو سیاسي ډلو د ټولنې ملکي او پوځي دواړه برخې داسې ګډوډې کړلې چې ملي جوهر یې ترې واخست او د پردیو خدمت ته یې وروړاندې کړلې . هرې سیاسي ډلې هڅه کوله چې د هېواد په ټولو ادارو کې خپل سړي ځاي پر ځاي کړي ، دا کار بیا هله چټک او ګړندی شو چې دوی د واک پر ګدۍ کښیناستل .

د هېواد له ملي بنسټونو څخه یو یې ښوونیزه او پوهنیزه برخه ده چې دا برخه په ټولنه کې ستره ونډه لري ، له دې امله سیاسي ډلو هم ورته ډېر پام کوه . پوهنتونونه هغه ملي ښوونیز مرکزونه دي چې د ټول ملت په چوپړ او خدمت کې دي او د افغان ولس د ارزښتونو په رڼا کې د ټولنې د اړتیا پر بنسټ هرې برخې ته مسلکي وګړي روزي . خو له بده مرغه دا چار اوس د ناوړه سیاست ښکار شوی او د دې پرځای چې پوهنتونونه په روزنه ، څېړنو او پوهنیزو چارو بوخت شي ، په ناوړه سیاسي غوبلو بوخت دي .

ځینې پوهنتونو لپاره د بېلابېلو ناوړو فورمولونو له مخې داسې مشران ټاکل شوي چې د هغو په اړه په څه لیکلو شرمیږم ، خو لویه بدمرغي داده چې د استادانو او کادرونو د ګمارنې په برخه کې هم داسې معاملې روانې دي چې یو پوه وګړی چې په ټولو شرایطو برابر په پوهنتون کې د استادۍ د دندې وړتیا لري ، غورځول کیږي او هغه څوک یې پرځای راځي چې د ښوونځي لومړي ټولګي ته د ښوونې وړتیا او پوهه هم نه لري .

دا لړۍ له ډېر پخوا راروانه ده ، د کمونیزم د واکمنۍ پر وخت یو شمیر ناپوه وګړي د کمونیزم په مودرنو ماشینونو کې ورواچول شول او اخوا ترې ماسټران او داکتران راووتل ، په دوی کې خو ځینو هیڅ احساس نه کړه چې دې ماشین ته د څه لپاره ورواچول شول او موخه یې څه وه ، خو ځینې یې بیا ښه وو ، د دې خبرې احساس یې وکړ او خپلې ټولنې ته د خدمت مصدر شول . دا ماشیني کادرونه بېلابېلو ادارو او ښوونیزو بنسټونو ته ورننویستل شول او هلته یې په کار پیل وکړ چې ګڼشمیر یې پوهنتونو ته هم راغلل ، خو د ملت بېړۍ یې غرکه کړه ، ځکه پخپله مسلکي برخه کې هېڅ او په نشت حساب وو . اوس هم په ملت تاوان او د یوه رنځ درمل هم نه دي . یوازې د کمونیزم لړ و ډېر بوی پکې شته . خو بیا هم وروسته حالت ته په کتو ، پر یاده لړۍ هم ډېره نیوکه کولای نه شو ، ځکه تر یو بریده یې افغان ولس ته په مسلکي برخه کې خدمت وکړ .

له کمونیستي واکمنۍ راوروسته ، تش په نوم اسلامي دولت او جنګسالارانو ، خو ځینې پوهنتونونه په وژنځیونو بدل کړه او دلته یې خپلو جګړه مارانو ته د وژنو نوې نوې لارې ورزده کولې ، پر افغانانو یې د وژنې نوې نوې تجربې کولې او په دې برخه کې یې ماسټري او دوکتورا ورکوله ، ځکه لیسانس او بکلوریا یې پخوا ترلاسه کړې وه .

اسلامي امارت که له یوې خوا له ټوپکیزم ، کوتکیزم او جنگسالاریزم ښه وو ، خو ویجاړو پوهنتونو ته کومه ځانګړې رغاونیزه پاملرنه ونه شوه ، هڅه یې وکړه چې ویجاړو پوهنتونونه په شکلي بدلونو سره ترخپل اغیز لاندې راولي ، ځینې استادان یې ګور ته ولیږل او ځینو ته یې فرماني علمي رتبې ورکړلې .

د لویدیځ میلمنه ولسواکي لا روانه ده ، خو اوس داسې کیسې پیل شوي چې تیر ته باید په اخلاص دوعا وشي . یوه پوهنتوني مشر چاته په غوښتنلیک کې ، د دې پر ځای چې ولیکي ( وکتل شو ) ، ( وګتل شو ) لیکلي ، ما وې ( ورکه ډنګ ) .

د لوړو زده کړو وزارت لپاره داسې څوک مشر ټاکل شوی چې ویل کیږي کادري اسناد یې جعلي دي ، د لوړو زده کړو وزارت بودیجه د ده د ویښتانو او بریتونو رنګولو ته بسنه نه کوي ، ځکه د ده په وسیله کارېدونکي رنګونه په هېواد کې دننه نه پیداکیږي ، د دریشۍ او نیکټایي کیسه خو یې ډیره اوږده ده . په لوړو زده کړو وزارت کې یې داسې مافیایي کادرونه په لوړو څوکیو ګمارلي چې د ملي مشارکت تر سیوري لاندې ملي هلاکت ټینګ دی . په هر قوم ، ژبه ، مذهب او سیاسي ډلو کې یې غل پیدا کړی او ترڅنګ یې کښېنولی دی . دوی به دا په کړکیچونو کې ډوب هېواد د زده کړې او قلم په زور له کړاوه راوباسي ؟

پوهنتونو کې د استاد او کادر د ګمارنې معیار اوس د رټلو سیاسي ، قومي ، تش په نوم جهادي رهبرانو ، وزیرانو ، وکیلانو ، قوماندانو او نورو پلوی او واسطه ده ؛ نه پوهه او لیاقت . تر دې چې په ځینو پوهنتونو کې په ټولګیو کې د لومړیتوب او اول نمرګۍ موضوع هم د ورته معیارونو تر اغیز لاندې راغلې ده . استادان په جعلي اسنادو ګمارل کیږي ، په جعلي علمي اثارو علمي رتبې اخلي او نور چې د کانکور د موضوع په څیر ، ټول پرې پوهیږي .

د لوړو زده کړو ځینو شخصي موسسو هم ښه خدمت وکړ(؟) داسې نوي او چټک ماشینونه یې راوړي چې په یوه ورځ کې لیسانس راوباسي ، دا د هغه چا لپاره چې ډالر ورکوي او وخت نه لري . هغوی چې ډالر لږ لري او وخت هم ورسره شته ، نوم ثبتول اړین دي ، نور په کور ناست ، که زغم نه لري ، یو یا دوه کاله وروسته او که زغم لري ، څلور کاله وروسته د فراغت اسناد ورکول کیږي . تر ټولو مهمه موضوع ډالر دي چې په شخصي موسسو کې د تحصیلي اسنادو کار چټکولای شي . دا لړۍ هم د لوړو زده کړو وزارت تر څارنې لاندې پر مخ ځي ، بس هلته ( وال صاحب ) خوښ وساته نور د چا په کیسه کې مه اوسه .

ایران ، پاکستان او نور هم د افغان هېواد په بیارغونه کې ډېر چټک ګامونه اخلي (؟) افغاني الاصله ایرانیانو او پاکستانیانوته ډېرې چټکې لوړې زده کړې ورکوي ، د دوی ښوونیز ماشین د نوې نړۍ په ټیکنالوژۍ سمبال په څو ورځو

او اوونيو کې ماسټر او داکتر راوباسي او د خپلو استخباراتي موخو لپاره يې افغان هېواد ته رااستوي چې د ولسمشر ، د ولسمشر مرستيال ، وزير ، معين ، ريس ، علمي کادر ، وکيل او په نورو مقامونو او څوکيو کې وګمارل شي .

يادښت : ډېر ډاده نه يم ، خو ليکنه په ( لوی افغانستان ) کې خپره شوې ده.

## د افغاني ژبو پروړاندې د سياسي ډلو چلند

په ټوليزه توګه ، د هغو وګړو او انسانانو ژوند ، ترډېره هوسا او خوندي وي ، چې په يوه چوکاټ او سيستم کې ورننوتي وي . په هره ټولنه کې چې ځانګړې وګړني خوځښتونه د ټوليزو ټولنيزو قوانينو سره جوخت او موازي درومي ، ټولنه په يوه څرګند او جوت چوکاټ کې پرمختګ کوي .

له بده مرغه افغاني ټولنه ، د نړۍ له هغو وروسته پاتې ټولنو څخه ده ، چې له لويه سره پکې د قانون د پلي کېدنې موضوع ډېره پيکه او کمزورې وه او ده . داچې ولې ؟ دوه لاملونه لرلای شي :

الف -  قوانين د وګړو د روا غوښتنو ځوابوونکي نه وو .

ب  -  په طبيعي توګه ، داچې سيمې او وګړو له اوږد مهال راهيسې ،  په متمدن او قانوني چوکات کې ژوند کړی نه دی ، قانون نه مني او ترې تېښته کوي او هغه د خپلو ازاديو پروړاندې خنډ ګڼي .

که زموږ په ټولنه کې ، اوسنۍ ګډوډۍ او د قوانينو د پلې کېدنې او تطبيق پروړاندې خنډونه ګورو ، نو د پورتنيو يادو لاملونو پربنسټ دي .

د پورتنيو څرګندونو په رڼا کې ، راځو خپلې موضوع ته چې هغه د افغاني ژبو ده او بيا په دې برخه کې د سياسي ډلو او غورځنګونو پاملرنه او چلند چې د افغاني ټولنيز پرمختيايي بهير سرلاري او مخکښان دي ،چې تر دې دمه ، لا دا خبره هم په شک کې ده ، ځکه زموږ سياسي غورځنګونه او ډلې زموږ د ملت په خير نه وو .

له بده مرغه ، موږ تراوسه هم په هېواد کې يو غښتلی ملي سياسي غورځنګ نه لرو ، چې يوه ملي تګلاره ولري او لږ تر لږه که ټول ملت نه وي ، نو د ملت د يوې سترې برخې ملاتړ خو ولري .

په هېواد کې ترسلو پورته سياسي ډلې ، ټپلې شته چې ښه ده انجوګانې يا شرکتونه ورته ووايو ، ځکه زموږ د ټولو افغاني وګړو مفکورې په دوه يا درې سياسي ډلو کې ځايدلای شي ، دومره اختلاف ته اړتيا نشته . له دې څخه يا دا ښکاري ،

چې موږ په مفکوروي لحاظ د نړۍ له ډېرو سترو پرمختللو هېوادونو هم لوړ يو يانې دومره ډېرې مفکورې لرو او يا داچې د سياسي ډلو کمزوري ، پرديو هېوادونو ته کاراو سوداګري .

بيا هم له بده مرغه ، زموږ سياسي غورځنګونه ، قومي ، مذهبي او ژبنی رنګ لري . د افغانی ټولنې د عمومي پرنسيپونو او معيارونو سره سم کارنه کوي ، د ټولنې يوه کوچنۍ برخه به ترې خوښه ، خو يوه لويه برخه ترې کرکه کوي ، چې دا خبره د يوه ملي غورځنګ لپاره نه ښايي .

که اساسي قانون د افغاني ټولنيز پرمختيايي بهير د سمون او پرمختګ لپاره رامنځته شوی وي ، نو سياسي ډلې يې ولې نه مني ؟ ايا دوی د افغاني ټولنې پرمختګ نه غواړي ؟ که اساسي قانون مني ، بيا خو قانون دا هر څه څرګند کړي دي . که څوک په افغاني ټولنه کې سياست کوي بايد اساسي قانون معيار وګرځوي او ټولو مواردو ته په پام سره د افغانانو د اړتيا پربنسټ خپلې چارې تنظيم کړي . بايد د افغانستان ټولې ژبې چې افغانان پرې ګړېږي ،د هغه ژبې اوسې او د هرې ژبې حق ور پرځای کړي .

د سمسور هېواد په هيله

## د زماني مېړانه او اتلواله

شاه محمود کډوال

موږ په يوه داسې ټولنه کې ژوند کوو ، چې دلته خبرې ډېرې او کار لږ دی . په ښوونځيو ، پوهنتونو او نورو ښوونيزو مرکزونو کې مو نظري برخه ښه ده ، خو عملي او تجربي يې کمزورې او کله هم په هېڅ شمېرل کېږي . زموږ ګڼ شمېر زده کوونکي او محصلين ، ښه حافظه او استعداد لري . په کتابونو کې ليکل شوي او د ښوونکو ښوونيز مواد ښه زده کولای شي ، له ښوونځيو او پوهنتونو څخه په ښو نومرو کې فارغېږي ، خو د عملي کار د نه زده کړې له کبله ، چې کله په ټولنه کې عملي کار ته وړاندې کېږي ، بيا يې خوند نه وي ، نه شي کولای نظرونو ته عملي بڼه ورکړي .
د دې لپاره چې يو څوک موټر وچلوي ، نظري او عملي درسونه ورکول کېږي . دواړه مهم دي ، که يو يې وي او بل يې نه وي ، نو بيا بشپړه ګټه نه لري . په ژوند کې د عملي کار اغېز ډېر دی ، تر هغې چې د موټر په څوکۍ کښېننو ، کلچ ، بريک او ... په عملي توګه ونه کاروو ، يوازې په نظري ډول زده کړه موږ نه چلوونکی جوړولای نه شي . د عملي کار په لړ کې موږ ته د يوه کار ښېګڼې ، بدګڼې ، نيمګړتيا او نور بېلابېل اړخونه څرګندېږي .
زموږ د شاتګ يو لامل دا دی چې د نظر خاوند ډېر ، خو د عملي کار لپاره خلک لږ لرو . په داسې حال کې چې ټولنيز او وګړيز پرمختګ په کار او عمل رامنځته کېږي ، نه په خبرو او نظرونو او يا لږ تر لږه ، د دواړو ترمنځ انډول په کار دی . څومره چې کار کوو ، هومره خبرې وکړو ، خو غوره داده چې کار ډېر او خبرې لږې وکړو . داسې هم نه وايو چې موږ د کار خلک نه لرو ، لرو يې ، خو لږ دي . دومره نه دي چې د ټولنيز کاروان مخ وګرځوي او د پرمختګ پر لار مو ګړندي کړي .

کار يواځې دا نه دی چې بېل او کولنګ راواخلو او يوه وياله وباسو يا کمپيوټر ته کښېنو او هغه ته معلومات ور دننه کړو . که موږ د خپل نظر او فکر د خونديتابه لپاره قلم او کاغذ راواخيست او هغه مو وليکه ، دا کار او عمل شو او ستره مېړانه مو ترسره کړه . يو څوک به زموږ نظر ته عملي بڼه ورکړي او په ټولنه کې به خپل اغېز بربنډ کړي .

نن که په هېواد کې څه لرو او د ژوند چارې پرې پرمخ وړو ، دا د ټولنې د ټولو وګړو پر پرتله د لږو کار دی ، لږ شمېر وګړي اغېزناک کارونه کوي او ډېرو ته يې ګټه رسېږي . په همدې ډول ، ټولنيزې ډلې او غورځنګونه هم دي . که څه هم د هېواد ټولو وګړو ته پام ، اوس هم د ټولنيزو او ډله ييزو خوځښتونو شمېر لږ دی ، خو د همدې ټولنو او خوځښتونو کاري اغېز او څرنګوالی بيا ډېر لږ ليدل کېږي ؛ پر وړاندې يې خبرې او شعارونه ډېر دي . له بده مرغه دا حالت د ټولنې ترڅنګ دولت او حکومت هم اغېزمن کړی ، چارواکي ډېرې خبرې ، غونډې او ژمنې کوي ، خو په عمل کې بيا دومره پياوړي نه دی . حکومتي مامور کار ته ناوخته راځي او وخته ځي . په داسې حال کې چې حکومتي خدمتونو ته اړمن وګړي د حکومت د کار او خدمت تږي دي . کاغذونه له نظرونو ، لوايحو ، مقرراتو او قوانينو ډک دي ، خو د عمل لپاره څوک نشته چې دلته د مسلکي پوهې لړوالی هم يوه ستونزه ده چې په ټوله کې يې د پرمختګ پر وړاندې خنډونه جوړ کړي دي .

زموږ د ټولنې او وګړو د پرمختګ لپاره د ټولو با احساسه وګړو ، خوځښتونو او غورځنګونو هڅې او منډې د ستاينې وړ دي او د هېواد تاريخ به يې په زرينو کرښو کې ساتي . د دوی هڅې د ټولنې نورو وګړو ته ور زده کوي چې د خپلو وګړو او ټولنې خدمت او سوکالۍ ته ورودانګي او خپلو وګړو ته د هوسا ژوند لاره هواره کړي .

په هېواد کې د اوسنۍ ولسواکۍ نه په ګټنه ، ګڼ شمېر ټولنيز خوځښتونه پيل شول . يو شمېر يې د هېواد په ګټه او ځينې يې د هېواد او افغان ملت د بنسټونو په نړېدو پسې راووتل او لا لګيا دي . دا هغه د حق او د باطل جګړه ده چې د بشر د پيدايښت راپدېخوا پيل شوې ، تر ننه روانه او د ژوند تر پايه به اوږدېږي . د هېواد او افغان ملت ارزښتونو او بنسټونو ته لاهم ګواښونه کېږي او موږ په يوه دفاعي حالت کې ژوند او مبارزه کوو . زموږ د هېواد او ملت دښمنان د ډېرو شونتياوو په درلودلو سره بياهم زموږ د مېړني ولس پر وړاندې ناکام دي او موږ سره په جګړه کې نهيلي شوي دي .

ملي تحريک چې د هېواد او ملت د بنسټيزو ارزښتونو د پايښت او ژغورنې لپاره مدني او کولتوري مبارزه کوي . د يوه هراړخيز خوځښت په توګه په هغو لارو ګامونه اخلي چې د هېواد او جګړه ځپلي ملت د پرمختګ لامل ګرځي . د خپلو لږو شونتياوو په اډانه کې يې داسې اغېزناکې چارې تر کار لاندې نيولي چې د ټولنې د شعوري لوړتيا لار لنډوي . په داسې يو حالت کې چې ډېری خوځښتونه يواځې د څوکۍ او مقام په نيولو پسې راوتلي او د کوم ټولنيز خدمت څرک يې نشته . د همدې ډلو د ناوړه سياسي چال چلند په پايله کې هېواد له يوه کړکيچن پړاوه تېرېږي . سياسي ، اقتصادي ، کولتوري او پوځي حالت د نهيلۍ تر بريده رسيدلی ، خو په هېواد مين وګړي او خوځښتونه نهيلي نه دي او د هېواد د سوکالۍ په موخه په اغزيو پښې ږدي او ګلونو ته د رسېدو په پار ګامونه اخلي .

ملي تحريک د يوه ملي ټولنيز خدماتي خوځښت په توګه ، په بېلابېلو فعاليتونو بوخت دی . تل يې ملت ته د اړتيا پر وخت د مرستې لاس ورکړی او هېڅ ډول مرسته يې له خپلو وګړو سپمولې نه ده . تل يې هغه څه ويلي ، کړي او غوښتي چې ملت يې غواړي . تحريک دا ځل د خپلې ټولنې او وګړو د پرمختګ ، هوساينې او سوکالۍ په موخه داسې يو ګام

پورته کړ چې په تاریخ کې ساری نه لري او د خپل ډول لومړنی کولتوري او علمي فعالیت دی چې د ټولنیزو ارزښتونو د پایښت او ځلا ډېرې به بلې ساتي .

په همدې هیله !

یادښت : لیکنه د ملي تحریک په خپرونو کې خپره شوې ده.

## دښمن ته د بغلان ځواب !

محمد نور رشید

افغان ولس پوه دی چې د تاریخ په اوږدو اوبیا په دا وروستیو کې ، کله ناکله داسې انګیرل شوي چې ګواکې د هیواد شمال او بیا بغلان داسې سیمه ده چې د هېواد او دین د دښمنانو په واک او اغیز لاندې ده . دا تر یوه بریده سمه ده ځکه چې تر ټولو ډېر د روسانو او نورو بهرنیو هېوادونو استازي په شمال او دې سیمه کې وو او شته ، خو د دې سیمې مجاهد ملت دوی ته داسې تاریخي ماتې او ځوابونه ورکړي چې تر قیامته به یې هیر نه کړي ، روان او فکر به یې تل ګډوډ وي .

له بده مرغه د هېواد په جګړییزو شرایطو کې ګڼې ستونزې رامخته شولې ، یو شمیر بې بنسټه ، بې ولسه او بې کلي وګړي د ټوپک او کوټک په زور، په ولس وروټپل شول . جنرالان شول ، قومندانان شول ، اتلان شول . ملت او ځینې سیمې یې په زور تر خپل واک لاندې راوستلې . بیچاره او بې وسلې ملت یې یرغمل کړ ، خو د دوی او د دوی د بهرنیو بادارانو دا ډرامې نور پای ته رسیدونکې دي ، ځکه ولس پوه او راویښ شوی دی .

هغه وخت چې د ( اسلامیت وژغورئ او افغانیت وژغورئ ) لړۍ په ټول هېواد کې پیل شوه ، د بغلان ملت هم د خپلو ارزښتونو د ساتنې او دفاع لپاره راووت . ټول ملت په غورځنګونو شو ؛ کرګر ، ملا ، عالم ، ښوونکي ، زده کوونکي او ټول ملت د تیر په څیر بیا سر په لاس کې ونیو او د خپل هیواد د دفاع لپاره یې راودانګل ، خو د یو شمیر بې پښتو پښتنو نامیړانه هم د هېرولو نه ده .

دا حالت له دښمن سره د مخامخ وسلوالې جګړې نه هم سخت وو ، ځکه د پلاستیکي ، کاغذي او رسنیزو اتلانو او زورواکو پرضد مبارزه وه . هغوی چې پر ملت یې خپسه کینولې ده ، خو په حقیقت کې هیڅ دي .

د غونډې او راټولیدنې لپاره مو ډېر کړاوونه ولیدل ، ځینو مشرانو ته به مو چې موضوع روښانه کړه ، غوني به یې زیږ شول ، ویرې به واخستل او له موږ به یې ښښنه وغوښته او یا به یې غوښتل په یو ډول موږ وغولوي ، خو ملت راسره وو . کله مو چې په یوه چاپخونه کې د غونډې لپاره شعارونه چاپول ، چاپوونکي له ویرې زموږ پر شعارونو خپله نښه چاپ نه کړه ، ویل یې ماته ګواښ پېښیږي . د ویاړ خبره داده چې یو څو ملګرو مو وویل ، ملي بیرغونه مو پیرل ، خو خلاص شوي وو . لامل یې دا وو چې نورو ملګرو مو د غونډې لپاره دومره بیرغونه پیرلي وو چې نږدې ټول دوکانونه یې تش کړي وو ، په اسانۍ سره نه موندل کیده .

د جمعې ورځ وه ، د بغلان ولايت ، پلخمري په زمانخيلو کې سره راټول شولو ، ټول ولس مو تر خپله وسه پوهولی وو ، د جمعې لمونځ پر وخت مو د جومات امام صاحب هم پر موضوع وپوهوه . الله (ج) دې جنتونه ورکړي ، په جومات کې ناست ولس ته يې موضوع وويله او ترې يې وغوښتل چې د خپلو ارزښتونو د دفاع او ساتنې لپاره سره راټول شي .
په پايله کې د الله (ج) په مرسته او نصرت ، د ميړني او مجاهد ملت په ملاتړ سره راټول شولو او د خپل نظر او غوښتنو څرګندونه مو وکړه . د هېواد دښمنانو ته مو وښودله چې افغان ولس کلونه کلونه کېږي د خپل دين ، ملت او هېواد لپاره مبارزه کوي او نن هم په خپلو ټولو شونتياوو سره خپل ارزښتونه ساتي او د ژوند په قربانۍ سره خپل دين او هېواد خوندي کوي .
يادښت : ليکنه د ( تحريک ) مجلې په لومړۍ ګڼه کې خپره شوې ده .

## دوستم ؛ د زهرو ګوټ

نصرت الله سنګين

په ټولو هېوادنو کې ، چيرته چې ولسواکي او ټاکنې شته ، د ټاکنو پر وخت د سياستوالو ترمنځ ، داسې معاملې کيږي چې د عادي وګړو لپاره ډېرې هېښنده او په زړه پورې وي . زموږ هېواد هم همداسې دی . د اوبايمو کلونو خپلمنځي جګړو پرمهال ، د بېلابېلو جګړنانو ترمنځ تړونونه ، خو به مو په ياد وي چې څومره ژر بدلېدل . د سياف او محقق جګړې ، د جمعيت او حزب اسلامي شخړې ، دوستم او نور، د زرګونو هېوادوالو وژل کېدل ، ملي شتمني لوټېدل ، ډول ډول تيري او بيا د کرزي په واکمنۍ کې د دې ډلو ټلواله . ټول د اړتيا او ګټو په بنسټ د لوبې د لوبغاړو يوون ښيي .
هغه وخت چې داکتر اشرف غني احمدزي ، د جمهوري رياست د نوماند په توګه ، جنرال دوستم خپل لومړی مرستيال وټاکه ، د ولس په منځ کې ګڼ شمير منفي غبرګونونه ښکاره شول او تر ډېره سم وو . ځکه عبدالرشيد دوستم په تېر ژوند کې يوازې او يوازې يو جنګسالار وو او بس ، نور هېڅ يادوړ ښه صفت يې نه درلود . ګلمجم ، قاتل او د هېواد د ويشونکو ملاتړی .
دوستم د داکتر نجيب الله پر وخت يوه بدنومه څېره وه ، په داخلي جګړو کې هم تر پخوا ډېر بدنومه شو ، په وروستيو کې د زرګونه طالب بنديانو په وژلو ، د ده توره څېره له کتلو ووتله او د ملت په سترګو کې ډېر سپک شو ، په ځانګړې توګه د پښتنو په منځ کې ډېر بد نوم لري ، ځکه د کمونستانو د واکمنۍ پر وخت د ده تر مشرۍ لاندې قومي ګلمجم مليشه يې ځواک د پښتنو په سيمو کې ډېر ظلم او تيري کوو ، غلا ، چوروچپاول او ټول هغه څه چې چنګيز کړي وو .
د طالبانو په ډله ييزه وژنه يې بيا ډېر پښتانه وځورول او د کرزي په واکمنۍ کې هم د تجزيه غوښتونکو ډول ته ګډېده چې په دې سره هم ډېر پښتانه افغانان او ټول ملت له ده ناخوښه وو ، ناخوښه څه چې په مرګ يې خوښ وو او ډېر بد ترې وړي .
دوستم پخپلو بدو کړو د هېواد يوه قوم ته چې په ښکاره دی يې مشري کوي ډېرې ستونزې وزېږولې او خلک د دې قوم په هر غړي کې دوستم ګوري . په هېواد کې ټول افغانان يو ډول حقونه او امتيازونه لري ، دغسې ټول قومونه خپل حق لري . د دوستم قوم د نورو په څير په هېواد کې حق لري چې ولسمسران شي ، وزيران شي ، وکيلان شي او ... خو زه نه

پوهېږم  دا په دوستم کې ، دده قوم  څه لیدلي ؟  له قحط الرجال سره مخ دي که ځنګه ؟ ځکه دوستم دوی ته څه خیر رسولی ؟  تل یې ترې پوځي ګټه اخستې ، له خلکو سره یې جنګولي ، دوی یې وژلي دي  او ځان یې خوندي کړی دی . دوی ته یې کوم روغتون او پوهنتون جوړکړی چې دوی پرې دومره مین دي ؟  که زه  د ده له قومه وای ، دا به مې د یوې شېبې لپاره هم مشر منلی نه وای او که دا دوستم  زما له قومه شي هم د یوې شیبې لپاره به یې د مشر په توګه ونه منم .

له دې ټولو سره سره ، داکتر اشرف غني احمدزی چې تر ډېره د جنګسالارانو مخالف وو ، ولې یې یو جنګسالار خپل لومړی مرستیال کړ ؟  ایا دوستم  به دومره رایه ولري چې لږ تر لږه د ده په ټاکنې سره ، له اشرف غني احمدزي تللې رایې پوره کړي ؟ یو څه چې ډېر او نږدې ټول پرې پوهېږو ، داده چې په ټاکنو کې د دوو ډلو یا اشخاصو جوړښت هم د رایو پر بنسټ کیږي ، فکر او ایډیالوژۍ خو دې سیمې کې سر خوړلی .

که ځیر شو ، اشرف غني احمدزي د دوستم په ټاکنه کې ډېر غور کړی او ښه ټاکنه ده  .  دوستم که چیرته په نره ملا وتړي ، نو  د ده د قوم یو غړی یې هم له خبرې نه تیرېږي او په هغوی کې ستر ځای لري . د ده د قوم کوچنیان ده ته (بابا ) وایي .

د هېواد شمال چې په اوسني وخت کې جمعیت ، مارشال او عطا ء تر خپل اغېز لاندې ساتلی یوازې دوستم یې د خپلو سرکښو سرتیرو او قوم په مرسته ځواب ویلی شي . زه باور لرم ، دا چې د دوستم قوم جمهوري ریاست ته نوماند نه لري او لومړی مرستیالتوب دوی ته یو ځانګړی امتیاز دی ، د دوی ټولې رایې  اشرف غني ته ځي ، د دې ترڅنګ د دوستم د قوم او دویم مرستیال سرور دانش د قوم ترمنځ نژادي تړاو ، د اشرف غني احمدزي لوری غښتلی کوي . پاتې شوه  د کرزي صیب د اوسني لومړي مرستیال د قوم رایې ، دوی کرزي ته هم رایه نه وه ورکړې ، خو کرزی بریالی شو ، د کرزي ټولې رایې د ده ( کرزي ) او اشرف غني احمدزي  ،  د دوستم  او سرور دانش د قومونو رایې وې ، د ټاکنو کمیسیون ته دا موضوع ښه روښانه ده ،  د مارشال صیب قوم دومره نه دی چې د یوه نوماند په بري او ناکامۍ کې ونډه ولري . له بده مرغه د کرزي صیب د واکمنۍ ټولې واګې د مارشال صیب د قوم شوې ، نورقومونه  له وره باندې په درشل کې پاتې شول .

پښتانه له  نظام څخه د باندې پاتې کېدو له امله  له ډېرو کړاوونو سره مخ دي . د الله (ج) رحم دی ، له ډېرو ناورینونو ، کړاوونو او تیریو زغملو وروسته بیاهم ښه ډېر دي او د هېواد اکثریت جوړوي ، خو په  ټاکنو کې  سرونه نه ، بلکې د ټاکنو پېژندپاڼې یا کارتونه مطرح دي  ، هغه کارتونه چې ځینې پښتانه یې اخستل کفر بولي . په ټاکنو کې د ښځو ونډه  ، خو د ځینو پښتنو لپاره سور کفر دی . که فکر وکړو چې د پښتنو د وګړو  ( ۴۰ -  ۵۰ ) سلنه ښځې دي  ، نو په دوی کې ډېرې لږې ، هغه هم چې په ښارونو کې اوسېږي  ، په ټاکنو کې برخه اخلي . له بده مرغه چې ډېر پښتانه په کلیوالو سیمو کې اوسي او هلته د ټاکنو پر وړاندې ډېر ګواښونه شته دي  .

کله چې د نارینه وو خبره کوو ،  نو وړاندې مو ویل چې ډېر پښتانه په کلیوالو سیمو کې اوسي ، لږ یې ښارونو کې . لومړی ، خو د ښارونو پښتانه هم د نورو قومونو په پرتله د ټاکنو پر وړاندې بې پروا دي ، خو د کلیوالو پښتنو په پرتله ښه دي .په کلیوالو سیمو کې د پښتنو نالوستي ، د ټاکنو په ارزښت نه پوهېدل ، د ټاکنو په بهیر کې چلوټې ،  درغلۍ او د دولت  د

مخالفینو پراخ اغېز او جگړې ، د پښتنو د کورنیو او بهرنیو رقیبانو دسیسې ټول داسې لاملونه دي چې پښتانه گواښي . دې ټولو ستونزو او کړکېچونو ته په پام ، گمان نه کوم چې د ټولو پښتنو له پنځوس سلنو ډېر په ټاکنو کې گډون وکړي ، تر دې چې له دې به هم لږ وي ، خو دا لږه برخه چې په ټاکنو کې گډون کوي هم ، د ټاکنو لوری په بشپړه توگه ونجولای شي ، د نوماند بری او ناکامي ټاکي او بیا هم د نورو قومونو په پرتله ډېر دي .
په پایله کې ویلای شو چې د ډېرو گواښونو ، ستونزو او کړکېچونو سره سره بیا هم داکتر اشرف غني احمدزی په پښتنو او افغانانو کې ستر ځای لري ، په ځانگړې توگه په لوستو ځوانانو کې ، خو که کرزی صاحب کومه جادو ونه کړي ، پخپل دم یې چوف نه کړي او د قیوم کرزي یا بل نوماند لورته یې رانه کاږي . د دې ترڅنگ په ټاکنو کې درغلي هم ستر کړکېچ ولاړولی شي ، کړکېچ په دې مانا چې یو بې ولسه او بې رایو شخص بریالی کولای شي او یو بریالی ناکامولای شي .

یادښت : لیکنه د ( لوی افغانستان ) اوونیزې د لومړي کال په یارلسمه گڼه کې خپره شوې ده.

## زده کړه ؛ زما ستر ارمان

سیلۍ

له کوچنیوالي مې له لیک لوست سره ډېره مینه وه ، کله چې به په کور کې ، زما ورونو خپل د ښوونځي لوستونه لوستل او کورنۍ دندې به یې سرته رسولې ، ما به هم له هغوی سره خپل ، ځان په قلم او کتاب مشغولوه . څه مې لیکلی او لوستلی نه شو ؛ هسې د قلم ، کتابچې او کتاب سره مشغولا راته خوند راکوه . له هغه وخته مې دا هیلې په زړه کې راټوکېدلې وې چې داکټره به شم ، د خپلو وگړو خدمت به کوم ... .

کله چې د ښوونځي شوم ، پلارمې ښوونځي کې شامله کړم ، نور هر څه مې شاته کړل ، هره ورځ ښوونځي ته تلم ، ډېر په شوق او ذوق مې خپل لوستونه لوستل .

ښوونځي مو له کوره ، نږدې یو ساعت لرې وو . سهار به چې کله د ښوونځي د تگ وخت راورسید ، نو همزولي زده کوونکې او ټولگیوالې به راپسې کورته راغللې ، زه به ورسره مله شوم . د ښوونځي لاره د ښېرازه او شنو ځمکو ترمنځ پرته وه . ورو ورو به روان وو ، خبرې به مو کولې ، د تېر او نوي لوست په اړه به مو یو بل پوښتل .

موږ په ټولگي کې اتلس تنه وو ، څه زموږ د کلي او نور د بېلابېلو کلیو څخه وو . له پوهې او زده کړې سره د ډېرې مینې له امله ، تل په ښو نومرو بریالۍ کېدم ، د زده کړې له پیله تر پایه په لومړۍ درجه کې وم . کله چې له نهم ټولگي څخه لسم ته بریالی شوم ، څو ورځې ښوونځي ته لاړم ، خو نور مې بدمرغیو ور راوټکاوه . پلارمې راته ووې چې لورې ! ښوونځی پرېږده او په کور کښېنه ، ما ترې وپوښتل ، پلاره ! ولې ؟ هغه راته ووې ، ځکه نور نو ته پېغله شوې یې ، له کوره ستا وتل

سم کار نه دی ، خلک به څه وايي ؟ زه نه غواړم په کلي کې سر ټيټی ژوند وکړم .... ډېر ټينگار مې پر وکړ ، خو گټه يې ونه کړه ، په پای کې مې ورته ووې ، همدو مره خو مې پرېږده چې دولسم ټولگی پوره کړم ، پوهنتون به نه وايم ، زما د ډېر ټينگار سره سره ، بياهم له ښوونځي محرومه شوم . ټول ارمانونه مې له خاورو سره خاورې شول... .

اوس چې کلونه تير شول ، زه بياهم هيله لرم چې زده کړه وکړم ، خو لا برياليۍ شوې نه يم ، د ښوونځي ځينې کتابونه ، کتابچې او نور توکي راسره پاتې دي ، چې هر وخت ورته گورم ، نو سترگې مې له اوښکو ډکې شي ، ژاړم خو هېڅ کولای نه شم . يوازې ارمان !!!

يادښت : ليکنه د بغلان د ( تگ ) مجلې د لومړي کال په دويمه گڼه (۱۳۹۰) کې خپره شوې ده.

## زرغون څرک

شاه محمود کډوال

هغه وخت چې الله ( ج ) د نړۍ او وگړو د پيدايښت پرېکړه وکړه ، نو د لومړۍ سرچينې په توگه يې آدم ( ع ) جوړ او راپيداکړل ، بيا له هغه نه بې بې حوا . په دې توگه هغه د اوسنيو ملياردونو وگړو د زېږون پيلامه شوه . ستر څواک ( ج ) د هغه وخت د وگړو لپاره آدم ( ع ) لارښود وټاکه چې د ژوند بهير په سمه توگه پرمختگ وکړي . دا ټاکنې همداسې روانې وې ، په بېلابېلو وختونو کې د وگړنيز ژوند د ښه پرمختگ په موخه استازي رالېږل کېدل .

يو وخت داسې راغی چې ځينې وگړي د هوسا ژوند پروړاندې خنډ شول ، ناپوهی په هر لور ، په هرچا واکمني کوله او ژوند بې مانا او بې ارزښته شو . فکرونه سرگردان وو ، څوک يوه خوا ، څوک بله خوا د لېونو په څېر ، گرځېدل . توره تياره وه ، ډېوې په مړې کېدو وې ، خوښيو کډه وکړه ، غم د هرې کوڅې او کور ميلمه شو .

د دې ټولو ناخوالو د له منځه وړنې لپاره ، بيا استازی راواستول شو ، يو يتيم او نازولی استازی ، هوډمن او ژمن استازی ، يو بشر خو ځانگړی استازی ، د نيمگړو وگړو په منځ کې يو بشپړ وگړی ؛ حضرت محمد ( ص ) .

ژوند بيا ارزښت او مانا ومونده ، خوښۍ او هوساينې راغلې ، مينه او سوله راغله . کله چې دا استازی ( ص ) له ډېرو ازموينو تير شو او عمر يې پوخ شو ، نو د يو بشپړ قانون د رااستونې لړۍ پيل شوه ، چې لومړۍ ويی يې ( اقرا ) يانې ( ولوله ) وو .

راځئ ! څو شیبې فکر وکړو ، چې زموږ دین ( اسلام ) لوست ، پوهې ، ښوونځي ، مدرسې او پوهنتون ته څومره ارزښت ورکړی ، د یوې سترې لړۍ پیل په کوم بل ویي او چار ولې ونه شو ؟ دا ځکه چې د الله ( ج ) او ( اسلام ) لپاره لوست ، پوهه او له دې سره ټول تړلي جاجونه ډېر غوره وو . په لوست او پوهه هغه سترځواک ( ج ) پېژندل کېږي .

په پایله کې ایا دا دین ( اسلام ) د ښوونځي یانې د لوستلو او د پوهې د لاسته راوړلو د ځای نړول ، تړل او سوځول خوښوي ؟ له ښوونځي څخه د کوچنیانو یا په ټولیز ډول ، د ټولو وګړو راګرځول خوښوي ؟ زموږ ځواب به ضرور داوې چې نه !

یادښت : لیکنه د بغلان د ( تګ ) مجلې د لومړي کال په دویمه ګڼه (۱۳۹۰) کې خپره شوې ده.

## زور او کانکور

سید قیوم منور

د کانکور په نوم نړدې ټول پوه دي ، دا هغه لړۍ ده چې له لارې یې د هېواد د دولسمو ټولګیو زده کوونکي له فراغت وروسته پوهنتونو ته د لوړو زده کړو لپاره لار بیامومي . په دې کې شک نه شته چې دا لړۍ به په خپل جوړښت کې بېلابېلې ستونزې او نیمګړتیاوې لري ، خو پوهنتون ته د برې یوه لار ټاکل شوې ده .
د کانکور ازموینه له پخوا زموږ په هېواد کې دود ده ، خو تل له درغلیو او کړکیچونو نه خالي نه وه ، د یوه شخص پر ځای د بل شخص ازموینه ورکول ، د کانکور د پوښتنو راوتل او نورې چې نږدې ټول پرې پوهېږو . هغه څه چې په دفترونو کې ترسره کیږي ، ډېر ښکاره او څرګند نه دي ، خو ځینې زده کوونکي وایي چې د لوړو زده کړو په وزارت کې د هرې ښوونیزې څانګې ، پوهنځي او پوهنتون خپل قیمت دی ، په هماغه کچه پیسې ورکول پوهنتون ته د برې لار ده ، نه پوهېږم دا به رښتیا وي که تور ؟ خو وایي چې باد نه وي پاڼه نه ښوري .
له بده مرغه په ښوونځیو کې زده کوونکو ته د کانکور ازموینې د تخنیکي اړخ په اړه سمې لارښوونې نه کیږي ، ډېر زده کوونکي له دې لامله هم بې پایلې او یا ناکامیږي ، خو له دې ټولو سره سره ، ستره ننګونه په کانکور کې د سیمه ییزو او ولایتي زورواکو لاسوهنه ده .
هغه څه چې انکار ترې کېدای نه شي او ټول هېوادوال پرې پوهېږي دا دي چې د دولت روح یا وینه فساد دی ، داسې هیڅ اداره به نه وي چې هلته فساد نه وي ، نو د لوړو زده کړو وزارت ، پوهنتونونه او ځینې استادان هم په فساد ککړ دي چې د کانکور ازموینې د ګډوډۍ یو لامل هم دوی دي .
کانکور داسې یوه ازموینه ده چې ولسمشر ، وزیر ، والي ، قوماندان ، وکیل او ټول وګړي پکې ګډون لري . په دې مانا چې د ټولو یو څوک ( زوی ، لور او نور ) پکې خپل ځان ازمایي ، د ټولو هڅه دا وي چې خپل خپلوان ښو او لوړو پوهنتونو

او پوهنځیو ته بریالي کړي . د ولایتونو نږدې ټول وګړي ، ملکي او پوځي مامورین ، د ولایتي او ولسي جرګو استازي د یو شمیر مفسدو استادانو په مرسته د کانکور ازموینه ګډوډوي چې اوبه خړې کړي او کبان ونیسي .
یو څه چې ټینګار پرې کوم دادي چې په ځینو ولایتونو کې د کانکور ازموینې د اخیستلو لپاره ډیره لږه ملي روحیه هم نه شته او هیڅوک نه غواړي چې یو نالایقه او ناپوه خپل یې ناکام شي ، بلکې غواړي همدا ناپوه طب او انجینري ووایي
.

وړاندې مې وویل چې ځینې مفسد استادان هم د کانکور د ازموینې د ګډوډۍ لاملان دي ، ځکه د دوی هم خپل خپلوان ( زامن ، لوڼې او نور ) ازموینه ورکوي ، نو د دې لپاره چې خپلو خپلوانو ته د نقل فضا مساعده کړي ، اړ وي ټوله فضا ګډوډه کړي چې نور زده کوونکي او د ازموینې ګډونوال پرې نیوکه ونه کړي او یا د امنیتي او څارونکو تر نیوکې لاندې رانه شي . ځکه د امنیتیانو او څارونکو خپل خپلوان هم ازموینه ورکوي ، که مفسد استاد خپلو خپلوانو زده کوونکو ته نقل ورکوي او نورو ته یې نه ورکوي ، بیا ګرم دی او که په غلا او فساد کې عدالت وکړي ، امنیت او ټول څارونکي یې په خدمت کې دي . خو هغه څوک چې ددې څو اړخیزې مافیا سره توافق ونه کړي کور یې وران دی .
د ولایتي او ولسي جرګو ځینې وکیلان خو پربږده ، دوی خو د ملت د استازو په نوم ډیر په غور و پش ، د وسلوالو ساتونکو سره یوځای د کانکور ازموینې په هر زده کوونکي ګرځي او همدا ورته وایي چې استادان نقل درکوي مه وارخطاکیږئ ، له یوې خونې پوه زده کوونکی وباسي ، بلې خونې ته یې وړي او د خپلو خپلوانو پوښتنې پرې حلوي ، د پوښتنو فورمونه د ازموینې له سیمې وباسي ، ځوابونه یې پیداکوي او خپلو اړوندو زده کوونکو ته یې ورکوي ، دوی له یوې خوا زده کوونکو ته ورښایي چې موږ ستاسې استازي یو ، دومره پر موږ ګران یاست چې ستاسو لپاره هر خیانت ته حاضر یو خو یوازې رایه راکړئ ، چې دا وطن درته نور هم ګل او ګلزار کړو ، له بلې خوا ځانګړې پاملرنه یې خپلو زامنو ، لوڼو او نورو خپلوانو ته وي چې په نقل یې بریالي کړي .
په پایله کې د کانکور ازموینې ټول ګډوډوونکی تړون ، د ولایتي او ولسي جرګو ځینې وکیلان ، ځینې ملکي او پوځي لوړپوړي او ټیټ پوړي مامورین ، مفسد استادان او نور کانکور په یوه ناورین بدلوي . هغه زده کوونکي چې دولس کاله یې په ډیرو ناوړو شرایطو کې لوست کړی بې پایلې او ناکامیږي او هغه ناپوه او جاهل چې په دولس کلونو کې یې دوه کاله هم بشپړ ښوونځي لوستی نه دی ؛ بریالی کیږي . بیا په زور او زر پوهنتون وایي ، بیا په زور او زر لوړ دولتي مقام ته رسیږي یا ریس شي ، یا معین یا وزیر او یا ولسمشر ، که نور نه وي ، نو د ولایتي یا ولسي جرګې وکالت ته خو زور او زر ډیر لري .
زه نه پوهیږم چې پر چا غږ وکړم چې دا د کانکور ازموینه یوه ملي لړۍ ده او له فساد یې وژغورئ ، چې پوه زده کوونکي پوهنتونو ته بریالي شي او دا ویجاړ هیواد جوړ کړي ، ځکه داسې څوک راته معلوم نه دي ، یوازې د ولس د پوهاوي په موخه مې دا مالومات وړاندې کړل .
یادښت : ډیر ډاډه نه یم ، خو فکر کوم ، پورتنۍ لیکنه په ( لوی افغانستان ) کې خپره شوې ده.

# لاشرقيه لاغربيه ، اسلاميه افغانيه

عجب گل منصور

په اوبايمو كلونو كې چې د مجاهدينو واكمني وه ، په ښوونځي كې د زده كړې پروخت به هر سهار راټوليدو او د ( ښنلى مو جهاد كې سر او مال د خداى په نام ، عسكر يو د اسلام ، عسكر يو د اسلام ) ترانې تر اورېدو وروسته به بېلابېل شعارونه وو چې يو ( لاشرقيه لاغربيه ، اسلاميه اسلاميه ) وو . كه څه هم شعار عربي وو ، خو دومره پرې پوهېدو چې ( نه ختيځ او نه لويديځ ، يوازې اسلام او اسلام ) .

دا شعار په رښتيا چې ښكلى ، ژور او پياوړى وو او د هر مومن هيله او غوښتنه وه ، خو د عملي كولو لپاره يې گڼ خنډونه پر وړاندې دي . موږ لږ تر لږه پخپل هيواد كې دې موخې ته ونه رسېدو ، نور خو پرېږده . هغوى چې دا شعارونه يې وركول ځينو يې داسې كارونه وكړل چې زرگونه كلونه به هېر نه شي . د جهاد تر سيوري لاندې يې جهالت راژوندى او لوړتيا ته ورسوه . د هېواد ټوله ، سياسي ، اقتصادي ، پوځي او كولتوري پانگه يې له خاورو سره برابره كړه . د پخواني شوروي پروړاندې د ميړنيو شهيدانو وينو نه يې بلډنگونه او قصرونه جوړ كړل ، د ميړني افغان ولس ميړانه او سربښندنه يې وپلورله او يو ميړنى هېواد يې په نړۍ كې ورک ، سپک او سرټيټى كړ .

له يادو هېوادپلورو پخوا نورو هم همدا نارې وهلې ( كور ، كالي ، ډوډۍ ) او ( دا كاروان په شا نه ځي ، ځي به د اسمان په لور... ) خو هغوى هم د هېوادپلورنې هڅې جوړې كړې ، د هېواد ډېر بيچاره وگړي يې د ( كمونيزم ) لپاره له تيغه تير كړل او د هېواد ويجاړونې لار يې پرانسته .

د پورتنيو ميكروبونو نه وروسته بله ډله راووته چې دوى هم د خپلې واكمنۍ د ټيگښت لپاره دين رامخته كړ او نړدې ټول هېواد يې راخپل كړ ، خو دوى هم د تيرو پر پل ، پل كېښود او د هېواد او ملت د ربړونې لپاره يې بېلابېلې چارې پيل كړې ، هېواد له ستر گواښ سره مخ شو ، ځكه ښوونه ، ښوونځى ، ښوونكى او په ټوله كې هر ډول پرمختگ گناه شوه . راډيو ټلويزون زندى شو ، د فكر او بيان ازادي كفر شو او هغه د انحضرت ( ص) له رسالت او بعثت وړاندې جهالت او د اروپا د منځنيو پيړيو ياد يې تازه كړ .

له پورتنيو ډلو ټپلو او راتپل شويو واكيزو اډانو راوروسته د ( B ۵۲ ) په زور لويديزه ولسواكي راغله ، هغه څه يې راوتپل چې په لويديځ كې د لويديځوالو لپاره وو ، يو لږ شمير هېوادپال افغانان او گڼشمير افغان دښمنه ډلې د لويديزې ولسواكۍ تر سيوري لاندې د ناټو په زور په موږ راوتپل شول .

د پخوانيو دورو او واكمنيو جنگسالارانو ، د لويديزې ولسواكۍ سېمبولونه راخپل كړل ، ږيرې يې لنډې يا وخرېيلې ، دريشۍ يې واغوستلې ، نيكټايۍ يې تر غاړې كړلې ، د هېواد په مالي سرچينو واكمن شول ، بهرنيانو هم د هېوادپلورنې په بدل كې پرېمانه ډالر وركړل . خپلې ډلې يې تر پخوا لا پياوړې او د جعلي مدني ټولنو ، بې ضميره او هېوادپلورو ليكوالو او رسنيو په جوړولو يې هر څه تر خپل پوښښ لاندې راوستل . د دې ټولو ځانپلورو ، دينپلورو ، جهادپلورو ، هېوادپلورو او ملت پلورو افرادو او ډلو له لاسه افغان ملت او افغان هېواد له داسې گواښونو سره مخ شو چې وتل ترې ناشوني او ډېر گران دي .

د دې ټولو پردېپالو او مزدورو وګړو او ډلو په فکر او وجود کې د اسلامیت او افغانیت نشتوالي میرنی ، مجاهد او توریالی افغان ولس له داسې حالت سره مخامخ کړ چې په نړۍ کې بدنومه او بیچاره شو . هغه ارزښتونه او عناصر چې د افغانانو او افغان هېواد افغانستان بنسټ جوړوي ، په دوی کې نه وو چې اسلامیت او افغانیت دی .
د دې لپاره چې خپل ګران هېواد او ملت له باندنیو یرغلګرو ، ښکېلاک ، زبېښاک او کورنیو پردېپالو خوندي او وژغورو ؛ نو د هغه وخت د ښوونځي شعار داسې اړوو چې ( نه ختیځ نه لویدیځ ، یوازې اسلام او یوازې افغان ) چې هم مو دین خوندي شي او هم مو ملت او هېواد .

**له شاعرانو یوه هیله !**

شاه محمود کډوال

د یوه سندرغاړي سندرې ته غوږ وم چې په خپل خواږه غږ او هنرمندانه انداز سره یې د اورېدونکي د فکر ور ورټکاوه او د خیال په څپو یې ورګډاوه . د سندرې اورېدو پروخت مې د شعر منځپانګې ته هم پوره پام وو او دې ته سترګې په لار وم چې شعر کوم لور ته ځي . په رښتیا چې که له یوې خوا سندرغاړی د یوه خواږه غږ او هنر په پسول ښکلی وو ، له بلې خوا شاعر هم له ده کم نه وو او شعر یې د هنر په تله برابر وو .
د شعر منځپانګه داسې وه چې په لوی افغانستان څرخېده ، د ډېورنډ تورې کرښې شاوخوا وګړي یې ستایل او د هرې سیمې نوم اخستل کېده . د هر ځای او سیمې ډېر ښکلی انځور کښل شوی وو او ښه په زړه پورې ستاینه یې شوې وه ، خو یو څو سیمې پکې یادې نه شوې ، د بېلګې په توګه ، بدخشان ، فاریاب ، هرات ، بامیان ، بلخ او نورې .
خوښ یو چې زموږ ډېر شاعران چې کله شعر لیکي ، په دې برخه کې پوره پام کوي ، یوه ډله خو د ټول لوی افغانستان بېلابېلې سیمې یادوي ، ځینې یې که یوازې په اوسني افغانستان غږیږي ، نو د ټول هېواد سیمې یادوي .

د یاد شعر په اډانه کې د ډېورنډ اخوا د کوزې پښتونخوا بېلابېلې سیمې یادې شوې وې ، د برې پښتونخوا نه یوازې کابل ، ننګرهار ، کونړ ، لغمان ، خوست ، پکتیا او کندهار یاد شول . زه دې ته سترګې په لار وم چې اوس به زما د استوګنې سیمه ( بغلان ) هم یاد کړي ، خو شاعر له کابله دې خوا راتېر نه شو او موږ یې له یاده وویستلو ، د هېواد نږدې نیمه برخه . په دې کې شک نه شته چې د هېواد په ځینو سیمو کې به پښتانه ډېر وي او په ځینو کې نور قومونه ، خو یوه سیمه هم په بشپړه توګه د یوه قوم ، ژبې او مذهب نه ده او ټول ګډوډ د افغانانو په توګه ژوند کوي . که موږ د لوی او بیا اوسني افغانستان بېلابېلې سیمې د هېواد بېلابېلو قومونو ، ژبو او مذهبونو ته ځانکړې کوو ، نو د هېواد یووالي او ځمکنۍ بشپړتیا ته ګواښ پېښوو . که زموږ د ننګرهار یا پېښور شاعر او لیکوال یوازې ، هغه سیمې پخپلو شعرونو کې یادوي چې په اوسني وخت کې پښتانه په کې ډېر دي ، دا موږ بیا څه شو ؟ دا زموږ سیمه څه شوه ؟ ایا دا ( بغلان او نورې هېرې شوې سیمې ) د هېواد یوه برخه نه ده . موږ او زموږ سیمه ولې نه ستایل کېږي ؟ موږ کوم د یاد وړ چار ترسره کړی نه دی ؟

که شاعر یوازې پښتانه ستایي هم ښایي پوه شي چې پامیر ، بلخ ، ګاونډي هېوادونه ، ایران ، هند ، او د نړۍ نورې سیمې د پښتنو د ژوند او ژواک لرغونې او اوسنۍ سیمې دي . که په مهال ، ډېروالي او لږوالي او اوسنۍ جغرافیه پسې ګرځو ، ښایي پام وکړو چې د اوسني افغانستان داسې سیمه نه شته چې هلته پښتانه میشت نه وي . دا منو چې له ننګرهاره به لږ وي ، خو شته ، نو د دوی لپاره هم ښایي د قلم لږ رنګ ولګوو .
له ښایسته ډېر وخت راهیسې د هېواد کورني او بهرني دښمنان تر ښېلابېلو نومونو لاندې د هېواد د ویشلو په فکر کې دي . په اوپایمو کلونو کې یې په عملي توګه ځان وښود ، د هېواد په ښېلابېلو سیمو کې یې د خپلو هېوادګوټو نومدړې لګولې وې ، خو ارمان یې تر سره نه شو . ځینو یې ارمان ګور ته یوړ او ځینې یې په ژوند او دې دنیا کې وشرمېدل . دا یادونه مې د دې لپاره وکړه چې همدوی زموږ هېواد او وګړي په قومي ، ژبني ، مذهبي او سمتي توپیرونو ویشي او د جنګولو هڅه یې کوي . د هېواد ښېلابېلې سیمې او سمتونه د قومونو ، ژبو او مذهبونو لپاره ځانګړي کوي . له بده مرغه موږ کله کله ، په غیر شعوري توګه د هېواد له دښمنانو سره مرسته کوو . درنو شاعرانو او لیکوالو ته ښایي د هېواد د کورنیو او بهرنیو دښمنانو تر فرهنګي اغیز او ښکېلاک لاندې رانه شي او پرې نږدي چې د دښمنانو فرهنګي هڅې زموږ فرهنګ په ګونډو او لاندې ګړي . لږ تر لږه که په اوسني هېواد غرېږي ، نو په یوه برخه نه ، بلکې په ټول هېواد دې فکر ولري ، ټول هېواد او وګړي یې زموږ ویاړ دی .
یادښت : لیکنه د ( تحریک ) مجلې په لومړي کې خپره شوې ده.

## ملتپاله ښاپیری

متین لغمانی

هر وګړی د جلا فکر خاوند دی او ټول پر دې فکر کوي چې څنګه د یوې لارې په راخپلولو سوکاله او ښېرازه ژوند ولري . همدا معیار د ټولنیز ژوند په ټولو برخو کې دود دی . ځینې وګړي پر دې فکر کوي چې د ټولو وګړو په راخپلولو خپلې ګټې خوندي کړي ، هېڅوک له لاسه ورنه کړي او هېڅوک خپه نه شي . خو دا فکر ستر زغم ته اړتیا لري او تر دې چې ځاینیول یې ناشونې ښکاري . د همدې لارې لارویان ، په یوه ټولنیزه موضوع کې غوځ دریځ نه لري او نه غواړي چې غوځ دریځ ولري ، ځکه که یو اړخ ورته سم هم ښکاره شي ؛ د بل اړخ د خپګان له امله ډارېږي او خپل فکر څرګندولای نه شي . دا وګړي او دا فکر زموږ ټولنې ته د منلو نه دي .

ځینې وګړي بیا داسې دي چې د پورتنیو یادو وګړو پر وړاندې پیښ دي . دوی په یوه ټولنیزه موضوع کې پرېکنده او غوځ فکر لري او له څرګنداوي یې هم نه ډارېږي . دا وګړي ځکه سم بولو چې د خپل فکر له سموالي ډاډه او زړور دي ، خو په ټولو مواردو کې ښایي عدالت هېڅکله هېر نه شي .

د هېواد تکړه او ښایسته سندرغاړې ښاپیرۍ ( نغمه ) هغه افغانه ده چې که له یو خوا پخپل خواږه غږ د سندور او شعرونو له لارې خپل هېوادوال ، سولې ، مینې او سمون ته رابولي ، بلخوا په عملي ، ناسندریز او عادي ژوند کې هم د افغانیت عنصر ژوندی ساتي .

که د ښاپیرۍ سندریز ژوند تر کتنې لاندې نیسو ، ویلای شو چې په افغان سندرغاړو کې ، تر هرچا ډېر یې د خپل هېواد او هېوادوالو په درد ژړلي او په دې برخه کې تر ټولو ډېرې سندرې لري . دا هم سمه ده چې د دې سندرو ، شاعر او ټاکنه به د بل وه ، خو د ښاپیرۍ کوډې او ځای پکې ، ځکه د هېرولو نه دی چې غږ او لوړ احساس د دې وو چې د شعر د طبیعت سره سم یې ځان عیار کړی دی .

کله چې په هېواد او هېوادوالو ستر ناورینونه راغلي ، ښاپیرۍ ورسره منډې وهلي چې و یې ژغوري . هغه وخت چې په هېواد کې خپلمنځي جګړې ونښتې او ناورین وروستۍ کچې ته ورسید ، ښاپیرۍ هم ورنځېدله او ترپخوا یې ډېر خپلې سندرې په هېوادنیو پیښو وځرخولې او خپله مرسته یې له خپلو وګړو ونه سپموله . که څه هم په دې برخه کې راته د استاد منګل هېرول ښه نه برېښي ، خو ښاپیرۍ ترې مخکې وه ، ځکه په جلاتوب کې یې هم خپله د ملتپالنې لار وڅارله او پرې یې نه ښوده .

که څه هم د ژوند د بوختیاوو له کبله ، د ښاپیرۍ ( نغمې ) له کوډګر غږ او سندرو لرې یم ، خو هغه د ( جنګ د خدای لپاره بس کړئ ، یتیمان کونډې فریاد کړي ) سوله ییزه سندره مې ، په دې جګړه ییز حالت کې تل په فکر ګرځي ، په دې ډول په سلګونو داسې سندرې شته چې نغمې ته ویاړ وربښي .

ما وړاندې وویل چې نغمه نه یواځې دا چې په سندریز ډګر کې د هېوادوالو په چوپړ کې ده ، بلکې په نورو چوپړیزو برخو کې یې هم د خپلو وګړو چوپړ ته رادانګلي چې یو یې هم د خپلمنځي جګړو پروخت ، په ننګرهار ولایت کې میشتو کورنیو کډوالو ته د مرستو رسول او نور دي . دا هغه وخت وو چې ډېر نور زموږ د هېوادوالو په لوټ او چور بوخت وو ، خو ښاپیرۍ خپل کار کوه .

د پورتنیو چوپړونو ترڅنګ ، ښاغلې او ښکلې ښاپیرۍ ( نغمه ) هغه سندرغاړې ده چې په کور او بهر کې یې تل خپل افغاني هویت ساتلی او خپلې افغاني جامې اغوندي ، ما یې لا تر اوسه پر ځان داسې جامې لیدلې نه دي چې لږ تر لږه د سیمه ییز ګډ فرهنګ برخه نه وي ، بلکې تل پښتني او افغاني جامې اغوندي . د نورو په څېر یې خپل فرهنګ له لاسه ورکړی نه دی . د دې ترڅنګ تل په افغانه ژبه ، د افغاني احساس په اډانه کې ګړېږي .

په نړۍ کې نړدې ټول وګړي همداسې ژوند کوي ، په دې مانا چې د خپل چاپيريال ، ټولنې او هېواد ، لږ تر لږه  د یوه اړخ ښکارندوی او استازي دي . که دټولو اړخونو راخپلول ورته ګران وي ، نو د یوه ځواک خو لري . ملت په اوسنۍ نړۍ کې ټول وګړي پالي ، هغوی چې يې نه پالي ، در په در خاورې په سر دي . زموږ په ټولنه کې هم د ملتپالنې له کمزورتیا سره ، هاغسې شولو چې ټول يې ګورو .

د ښاپيرۍ ( نغمې ) دې فکر او احساس ته په درناوي ، ټولو افغانانو ته په کار ده چې په دې لاره سم شي او د خپل هېواد او هېوادوالو د چوپړ لپاره متې رابډ وهي . که ښوونکی دی ، که کرګر دی ، که وزير او ولسمشر .

يادښت : ليکنه د ( لوی افغانستان ) د دويم کال په پنځه لسمه ګڼه (۱۳۹۲) کې خپره شوې ده.

## **وردګ ؛ تر برید لاندې**

ثناګل  اورياخيل

افغان پیاوړي قومونه چې په ټوله کې د افغان پیاوړي ملت بنسټ دی ، د تاريخ په اوږدو کې يې خپل ځان  روښانه کړی او د نړۍ په ملتونو کې خپل ځانګړی ځای لري . زرګونه کلونه کیږي چې افغان هېواد د نړۍ د بېلابېلو وګړو او واکمنيو تر مستقيم او نامستقيم بريد لاندې راغلی . کله يرغلګر پخپله زموږ په هېواد راننوتي او کله يې هم خپل استازي په هېواد کې دننه روزلي او پاللي دي ، خو په پايله کې افغان ملت غاښ ماتوونکی ځواب ورکړی دی .

د افغانانو دښمن په بېلابېلو ځيرو ، ښو او لارو په موږ بريد کړی ، کله  د ( سمون او پرمختګ ) کله  د عدالت او مساوات ، کله ( کور ، کالي ، ډوډۍ )  کله د  دين  ،  کله  ولسواکي او نورې بېلابېلې پلمې چې هېواد مو راځنې ونيسي . کله چې دوی په پوځي ډګر کې ماتې خوړلې ، بيا يې  بله لاره نيولې چې په ګټڼه يې موږ مات کړي ، خو خيالونه او خوبونه يې خاورو ته وړي دي .

زموږ د  دين ، ملت او هېواد دښمنان د خپلو استازو په وسيله زموږ کورته راننوتي  او هڅه يې داده چې په يو ډول موږ سپک او ورک کړي . له يوې خوا په وسلو او بمونو زموږ وګړي وژني ، له بلې خوا په فرهنګي ډګر کې زموږ د دين ، ملت او هېواد په وژنه او ورکونه بوخت دي . زموږ د ارزښتونو د ړنګې او سپکونې لپاره په کور او بهر کې ستر ستر مرکزونه جوړشوي ، رسنۍ جوړې شوي ، جعلي او کاغذي شاعران او ليکوالان روزل شوي ، کتابونه ليکل شوي او نور چې د يوه پراخ يرغل په اډانه کې دا لړۍ روانه ده .

د تاریخ په یوه برخه کې گورو چې کله افغان اهنگران پخپلو زرینو گوتو او فکرونو داسې وسلې جوړوي چې د وخت ستره امپراتوري پرې ماتوي ، نو په هېواد کې د اهنگرانو د سپکونې او رټنې هڅې پیلیږي او د دوي ټولنیز دریځ زیانمنوي ؛ د دې لپاره چې د غه افغان اتلان له کاره وغورځول شي او په ټوله کې ټولنه او دولت کمزوری شي .

زموږ هېواد یو بڼ دی او قومونه یې رنگارنگ گلونه چې هر یو جلا جوړښت ، رنگ او بوی لري ، خو ټول ښکلي او خپل هېواد یې د بڼ په څیر ښکلی کړی دی . هیڅوک بد نه دی ، ټول ښه او درانه دي ، یوازې ځینې وگړي سپک او خاینین دي .

که اصلي موخې ته ورشو ، گورو چې زموږ په فرهنگي ډگر او بیا په ځانگړې توگه ټوکو ټکالو کې ځینې داسې دي چې طبیعي او واقعیي نه دي ، بلکې جعلي او سیاسي دي ، لکه د وردگو ذکي ، میړني او مجاهد ولس او وگړي چې ډیر په ټوکو کې سپکیږي ، په ورته ډول لغمانیان او نور هم ور ډیروم . خو حقیقت بل دی ؟

په ټولیز ډول که افغان هېواد او ټولنه تر څېړنې او کتنې لاندې نیسو ، په دې کې شک نه شته چې ټول د انسانانو په توگه کمزوري او انسان له تیروتنو سره مخ دی ، کېدای شي داسې کوم کار یې کړی وي چې د خندا وړ وي ، خو ډېرې ټوکې داسې دي چې د افغان قومونو د سپکاوي لپاره جوړې شوې دي . پښتون ، هزاره ، ازبک ، تاجک ، ترکمن او نور په ټولو پسې سپکې ټوکې جوړې شوې دي ، خو په دوی کې بیا په یوې قومې ډلې پسې لږې ټوکې شته په نورو پسې ډیرې دی . گمان کوم په ټوکو کې د نورو قومونو سپکونه هم د د وی کار دی ، هغه لږې ټوکې چې په دوی پسې جوړې شوي ، د نورو قومونو غبرگون دی ، خو په پایله کې ټوله لړی کورنی نه ، بلکې باندنی ده .

وردگ ، لغمانیان او نور افغان قومونه او سیمې ولې د داسې سپکوونکو ټوکو تر برید لاندې نیول کیږي او شوي دي ؟ دا خبره وړاندې څه نا څه سپینه شوه وایي ( کومه ونه چې میوه نیسي ، ډبرې خوري ) . وردگ هغه افغانه ، پښتتنه ، میړنۍ وگړنۍ ډله ده چې تر هر چا ډیر پوه ، ذکي ، زیارکښ او هوښیار وگړي لري او تر ټولو ډیر د افغان هېواد د پرمختگ لپاره یو پیاوړی ځواک دی . هغه ځواک چې پخوا هم پیاوړی ، میړنی او مجاهد وو او اوس هم . له دې امله د هېواد د دین او ملت د د ښمنانو پر وړاندې ډال او ستر خنډ دی ؛ نو کله چې دښمن په مخامخ جگړه کې ماته خوري ، بیا له شا وار کوي .

خپله خبره راغونډوم او غواړم په څرگنده ووایم ، نن چې په ځینو وگړو ، ناستو او مخابراتي شبکو کې د وردگو په اړه کومې ټوکې یوبل ته خپریږي ؛ ټولې جعلي او پلاستیکي دي او په زغرده ویلای شم چې په ایران او نورو افغان دښمنه هېوادونو او هېواد کې د دوی د لاسپوڅو په وسیله جوړیږي او خپریږي . ځینې بې شعوره وگړي او ځوانان ورباندې خپل

ارزښناک وخت ضایع کوي ، له بلې خوا د هېواد سترو ارزښتونو ته زیان رسوي . هغوی چې په شعوري توګه دا کار کوي ، ګرم نه دي ، هغوی ته څه ویل هم نه لرم ، په هغوی پسې مو توره او قلم رااخستي او ورسره جنګېږو .

په وردګو وغږېدم ، خو د دې ترڅنګ لغمانیان هم همداسې د دښمن تر ورته برید لاندې دي ، ځکه دوی هم د ټولو افغانانو په څیر ډیر پوه ، زیارکښ او هوښیار دي . کله چې څوک داسې وي او د افغان هېواد د پرمختګ او سوکالۍ سبب ګرځي ؛ نو څرګنده ده چې دښمن یې د هر ډول سپکاوي او رټنې هڅه کوي .

له بده مرغه ، موږ پخپل هېواد کې یوه پیاوړې ملي واکمني نه لرو ، چې ټول کولتوري او فرهنګي توکي د ملي لیدلوري او تګلارې له مخې وڅېړل شي ، خو زه د شته ځارنوالۍ ، اطلاعاتو او کولتور وزارت او ملي امنیت له ادارو غواړم چې دا هر څه وڅاري ، رسنۍ او مخابراتي شبکې هم وپوهول شي چې دا ډول توکي پخپلو شبکو کې خپرې نه کړي چې زموږ دین ، هېواد او ملت ته ګواښ دي .

## اور او اوبه

ماڼوګل مردان

که د نړۍ تاریخ و پلټو ، د وګړو ترمنځ شخړې ، تربګنۍ او جګړې هغه وخت رامنځته شوي چې د یوبل دیني ، ځمکنیو ، قومي ، ژبنیو او نورو ګټو ته ګواښ شوي دي . هر وګړی له رواني اړخه په یو دین ، ځمکې ، ژبې ، قوم او نورو پورې تړلی او تر خپل ځواکه یې ساتنه کوي . د پورتنیو فورمولونو په اډانه کې یوه وګړنۍ ډله د یوه غورځنګ بنسټ هم جوړوي .

پښتانه د نړۍ په ځمکه هغه وګړنۍ ډله ده چې خپل دین ، ځمکه ، ژبه او نور ټول هغه څه لري چې نور وګړي یې لري او د خپلو ټولو ارزښتونو په ساتنه کې تر ډېرو ټینګ دي .

زرګونه کلونه وړاندې چې پښتانه په نړۍ او سیمه کې د یوه ځواک په توګه څرګند شول ، د نورو وګړنیو ډلو او ځواکونو پام ورته واوښت او هڅه یې وکړه چې له بېلابېلو لارو ، دغه وګړنۍ ډله کمزورې او ارزښتونه یې ترې واخلي .

د پښتنو ساکانو ټولواکي ، د سکندر ، موریا کورنۍ ، چنګیز ، تیمور او بابر یرغلونه او ماتې ، د هوتکیانو ټولواکي ، لوی افغانستان او په دې هېواد پورې تړلی ټول اوسنی تاریخ ، کړکیچونه او ویاړنې ، د پښتنو افغانانو د ژوند هېنداره ده . دا هېنداره د پښتنو له زوکړې راپېدېخوا رغېدلې او ترقیامته به ( انشاء الله ) همداسې رغېدلې پاتې وي او هغه د حمزه بابا په وینا ،جنته ته به له خپلې پښتو سره ځو .

هغه څه چې ډېرې نړدې پېښې او تاریخ دی ، زموږ سیمې ته د لویو ځواکونو پام ، راتګ او دلته د پښتون افغان ځپل او په لوی افغانستان کې د دوی لاسوهنې ، په هېواد باندې د روسانو تیری او اوس د بېلابېلو دښمنانو او رقیبانو دامونه پښتانه افغانان ګوابښي .

انګریزان چې هند ته د سیمې د نېولو په نیت راننوتل ، د سیمې ملتپالو ورسره مبارزه پیل کړه  او تښتېدو ته یې اړ کړل ، خو استخباراتي او شیطاني شتون  یې پاتې شو . د خپلو  اوږدمهاله ګټو لپاره یې په سیمه کې نوې هڅه او هېواد جوړ کړل چې اوس ورته پاکستان وایي . دا هېواد د لوی افغانستان یوه ستره برخه غصب کړه او د سیمې ستر ځواک پښتون افغان دوه ټوټې کړای شو .

ټول په دې پوهېږو چې اوسنی پاکستان د لوی افغانستان غلاشوې ځمکه ده چې په رڼا ورځ راڅخه انګریزانو غلا کړه . د پاکستان رامنځته کېدل د پښتنو افغانانو ، سیمې او نړۍ د بدمرغۍ بنسټ دی . له هغې ورځې چې دا هېواد رامنځته شوی ، ټوله سیمه او نړۍ یې په سرطان ککړه کړې ده  ، خو تر ټولو ستر کړاو او درد یې پښتون ته ورساوه .

پاکستان د یو ورور او خور ، ورور او ورور ، خور او خور ، پلار او زوی ، مور او زوی ، میرمن او مېړه ترمنځ د بېلتون هڅه ده چې دا کار شونی خو تلپاتې نه دی . پاکستان د روح او بدن ترمنځ د بېلتون هڅه ده چې لوی افغانستان د یوه پیاوړي ژوندي وجود په توګه ورسره ډغرې وهي . هغه پلاستیکي او کاغذي ایډیالوژي چې د پاکستان بنسټ جوړوي ، له منځه تلونې او تلپاتې نه ده ، ځکه د دې هېواد وګړو ته داسې ښودل کېږي چې هېواد یې اسلامي دی ، خو دا خبره تر لوحو ، شعارونو او نارو پورې تړلې پاتې ده ، په عملي ډګر کې  درز و غوبل دی ، درز و غوبل نه مې موخه هغه د (هېرا منډوي) چارې او دې ته ورته د اسلامیه جمهوریه پاکستان تر سیوري لاندې په سلګونو او زرګونو ناشرعیي او نااسلامي کړنې دي چې په دې هېواد کې روانې دي چې دا ټول د پاکستان په نظام پورې تړلې دي . د دې ټولو سره سره ، د آی اس آی ګمارل شوي ملایان لا هم پراخ تبلیغات کوي چې د پاکستان بدرنګه ناوې خلکو ته په بېلابېلو رنګینو شالونو کې ښکلې وښيي .

ډېره د خواشینۍ  او بدمرغۍ خبره خو داده چې اوس ځینې وګړي په پښتو ژبه د پاکستان ستاینه کوي ، له ځان سره داسې انګېرم چې دا به هغه پنجابیان او نور وي چې پښتو یې د یوې ژبې او وسیلې په توګه زده کړې او یا به هغه پښتانه وي چې پښتو ژبه ورسره شته خو پښتو نه کوي او په خپل تاریخ او برم نه پوهېږي . ځکه یو پښتون چې پښتو ورسره وي ، هېڅکله د پاکستان ستاینه کولای نه شي ، دا د هغو پښتنو او افغانانو له وینو سره ستر خیانت دی چې  پاکستان  د خپل هېواد د ګټو لپاره شهیدان کړي او لا تر اوسه دا لړۍ ګړندۍ روانه ده .

پښتون او پاکستان اور او اوبه دي چې يو بل هېڅکله منلای نه شي ، ځکه وړاندې مو وویل چې پاکستان د پښتنو د بدمرغیو او ناورینونو بنسټ دی او داهم ثرگنده ده چې پاکستان هم د پښتنو په وجود کې ځان نه گوري ؛ نو تل یې د بربادۍ او بدمرغۍ په فکر کې دی .

## د ښاپېرۍ نغمې

میرمن ښاپېرۍ ( نغمه ) د هېواد هغه سندرغاړې ده چې زموږ په څېر میلیونونه وگړي یې پېژني ، دا چې پښتو سندرې یې ډېرې ویلې دي او پښتنه افغانه ده ، نږدې ټول پښتانه او افغانان یې پېژني ؛ اوس ښاپېرۍ د سیمې او نړۍ په کچه یوه پېژندل شوې سندرغاړې ده .

میرمن ښاپېرۍ اوږد عمر په پښتو سندرو کې تېر کړ او په دې برخه کې پخه تجربه لري . له سندور سره شعر و شاعري هم تړلې وي ، له همدې کبله میرمن ښاپېرۍ هم شاعري کوي .

د میرمن ښاپېرۍ د ژوند کیسې د ټولو افغانانو په څېر دي ، نوموړې تل د خپلې ټولنې په منځ کې استوگنه او د خپل ملت په خوښیو او غم کې شریکه وه . د هر افغان په څېر دردېلې او رنځېدلې ده ، خو خپل درد یې پټ کړی او خپل ملت ته یې خندلي چې دوی خوښ شي .

په اوبایمو کلونو کې چې پر هېواد یو نوی ناورین راغی او ټول هېوادوال یې وځپل ، ښاپېرۍ هم وځپل شوه او د وطن درد یې لا ډېر شو ، په  دغه وخت کې یې د خپل هېواد په ړنگېدو او د ملت پر ځور دېرې سندرې وویلې چې د رنځورانو ټپونو ته پټۍ شي .

کله کله به یې داسې فریادونه کول :

خبر مې اخله مسافره یم ناښاده

زما د وطن باده ، زما د وطن باده

کله به یې داسې ویل :

جنگ د خدای له پاره بس کړئ ، یتیممان کونډې فریاد کړي

چې ځوانان شي واړه قتل ، دا وطن به څوک اباد کړي ؟

د میرمن ښاپېرۍ دا شاعري ( یادونه او دردونه ) د دې د ژوند پېښې دي چې په شاعرانه جوړښتونو کې ثرگندې شوې دي ؛ هماغه پېښې چې زموږ ژوند ، ټولنې او چاپېریال پورې تړلې دي .

ښاپېرۍ یو ځای وایي :

خدایه ! پښتون ته سمه لار وښیې

د وینې پور یې لا په ورور پاتې دی

ښاپېرۍ په پورتني بیت کې د دې سیمې د یو ستر او میړني ولس هغه ناخوالو ته ورننوتې ده چې دا ولس یې ځپلی دی.
زه د شپې په ( ۵۱ : ۱۱ ) بجې او ( ۲۷/ ۷ / ۱۳۹۸ ) نېټه ، دغه لیکنه کوم چې پرون د ننگرهار شینواري عزیزان د جمعې ورځې لمانځه پر وخت په جومات کې په نښه شول او نږدې سل تنه یې شهیدان شول .

د ښاپېرۍ په پورتني بيت کې همدا ناخوالې دي چې دا يې خپل ولس ته يادوي چې ځان ترې وژغورئ او د يو بل له وژلو لاس واخلئ .

همداسې يو بل ځای د هغه وخت درد څرګندوي چې ښاپېرۍ له خپل ټاټوبي بېلېږي :

زه به د ژوند په قدر هله پوه شم

که ته نغمه په خړ خيبر واړوې ؟

زموږ په ټولنه کې هغه څوک چې نورو ته مينه ورکوي ، ټولنه ورنه تر ډېره کرکه کوي ، په دوی کې کسبګر او سندرغاړي هم شامل دي ، ښاپېرۍ په دې اړه وايي :

زه به هر چا ته ورکومه مينه

خير دی که څوک مې احترام نه کوي

د هر هېواد د وګړو ارزښت د هغوی په خپل ټاټوبي کې وي ، بل وطن پردی وي. له بده مرغه ځلوېښت کلنې جګړې افغانان داسې کړل ، لکه ښاپېرۍ چې وايي :

لرې کړه حيا رانه پردۍ کوڅې

څومره بې عزته زه افغانه شوم

درنښت

پوهندوی شاه محمود کډوال

لغمان پوهنتون

يادښت : پورتنۍ ليکنه د ښاپېرۍ (نغمې) دويمې شعرې ټولګې ( ستا يادونه ليوني دي ) ته ليکل شوې سريزه ده.

## د ( ملت حماسه ) کې د بغلان څېره

شاه محمود کډوال

هغه وخت چې په بربښنايي پېژندپاڼو کې د ( دين او ملت ) د ليکلو پر وړاندې غبرګون وښوول شو ، نو د دې سترو ارزښتونو په ملاتړ هم غبرګونونه څرګند شول . څرنګه چې د ( دين او ملت ) د ملاتړو مشري ښاغلي استاد يون کوله او دا مبارزه د ژوندون راډيو تلوېزيون له لارې خپرېدله ، نو د ( دين او ملت ) دښمنانو تر ټولو لويه هڅه همدا وه چې که د اسلامپالو او ملتپالو افغانانو هر څومره غونډې ، جرګې ، منطقي بحثونه او لاريونونه کېږي ، دومره مهمه نه ده ، خو چې د خپرېدو مخه يې ونيول شي چې د حق پلويان لا ډېر نه شي .

ټولو ته څرګنده ده چې د موضوع بنسټ په بربښنايي پېژندپاڼو کې د ( دين او ملت ) د کلمو ليکل وو چې پر وړاندې يې له ستمي فکرونو اغېزمن تش په نوم واکمن مجاهدين ولاړ وو ؛ د نظار شورا او شمال ټلوالې هغه مجاهدين او مقاومتيان

؟ چې دا وخت  د حکومت نړدې ټول پوځي او ملکي واک له دوی سره وو او هر څه يې چې غوښتل ، هغه کېدل . د بهرنيو شبکو لاسوهنه هم ردېدای نه شي ، ځکه بېلابېل لاملونه وو چې هغوی نه غوښتل پېژندپاڼې يوخوا هېواد او ملت معياري کړي ، بلخوا د ملت او هېواد د بيلتون مخه ونيسي .

د ( دين او ملت ) نه د ملاتړ بهير په استاد يون او ژوندون راډيو تلويزيون پورې غوټه شول او د دې هڅه وشوه چې د ( دين او ملت ) نه د ملاتړ او دفاع د بهير جرړې وباسي . د بېلابېلو اسلامپالو او ملتپالو روڼاندو د غونډو ، جرگو ، مشورو او د دوی د فکرونو او نظرونو د خپراوي مرکز ژوندون وو ، نو د دې رسنير ، ښوونيز ، ټولنيز او شعوري مرکز ترل د دښمنانو ستره موخه شوه چې د دې لپاره نارسمي کرکو ، غوښتنو او هڅو رسمي او حکومتي بڼه هم خپله کړه .

يوخوا له ( دين او ملت ) نه د ملاتړ لوی اکثريت او بلخوا له ( دين او ملت ) نه منکر کوچنی اقليت وو ، خو ستونزه دا وه چې اکثريت محکوم او اقليت حاکم وو ، نو په داسې حال کې مبارزه له حاکم اقليت سره وه چې له ( دين او ملت ) منکر وو . محکوم اکثريت له بېلابېلو پوځي او ملکي فشارونو سره مخ وو ؛ د نړيوالو او کورنيو دښمنانو سره په پوځي او ملکي مبارزه بوخت وو ، فرهنگي ، اقتصادي او ... ښکېلاک ټول سره يو موټي او د اکثريت پر ځپلو بوخت وو ، خو بياهم دښمن هر ځای مختورن شو .

هغه وخت چې پر کابل د ( دين او ملت ) او ژوندون راډيو تلويزيون په ملاتړ لومړی ستر لاريون ترسره شو ، هممهاله ورسره په ټول هېواد کې خوځښتونه پيل شول ، دا د وخت گرمه موضوع شوه چې رسنيو کې هم پرې بحثونه ډېر او ټولنې ته خپاره شول . ډېر نالوستي هم وپوهول شول چې دا بحثونه او خوځښتونه د څه لپاره دي ؟ د هېواد د نورو سيمو په څېر بغلانيان هم د ملي ارزښتونو په دفاع او ملاتړ کې ورگډ شول او خپله ونډه يې څرگنده کړه .

لکه چې وړاندې يادونه وشوه ، دا وخت په ټول هېواد کې اقليت حاکم او اکثريت محکوم وو ؛ بغلان کې هم همدا حالت وو ، بيا بغلان خو يوه داسې سيمه ده چې ښايي د هېواد او ملت فکري او شعوري دښمنان پکې تر نورو سيمو ډېر وي . يو سخت حالت وو ، ځکه زموږ لپاره شونتياوې هېڅ وې . د دې ترڅنگ د حکومتي لنډغرو گواښونه هم ډېر وو .

موږ لومړی له استاد يون سره اړيکی کې شو چې څه وکړو ؟ هغه وويل چې څه کولای شئ ، وبې کړئ ! وخوځېدو او ملگري مو پوه کړل چې د ( دين او ملت ) په ملاتړ او ژوندون راډيو تلويزيون د ترلو پر وړاندې يو غبرگون ښيو . فدا محمد فدايي چې يو وخت مو محصل او بيا راسره استاد شو ، د سيمې استوگن او د منډې ترړې سړی دی ، راسره شو . گرد گرځېدو چې يو څه وکړو ، ډله مو سوکه سوکه پراخېدله ، نور استادان او محصلين مو هم پوهول چې کلي او ولس وپوهوي . په دې ترڅ کې چې د خلکو په پوهولو بوخت وو ، نور کارونه هم راترغاړې وو ؛ د لاريون لپاره شعارونه چاپول ، بيرغونه پېرل ، ځانگړې ښکلاييزې ملي نښې او ... خو يوه افغانۍ په منځ کې نه وه . د نورو ملگرو مشرانو ترڅنگ مو دا موضوع له ( شمس الحق بارکزي ) سره هم شريکه کړه چې د دې ليکنې د ليک پر وخت د بغلان د ولايتي شورا غړی دی . هغه

( ۳۰۰۰ ) درې زره افغانۍ مرسته وکړه او خپلو خپلوانو ته يې وويل چې لاريون ته راشي ، خو خپله رانغی . نه يواځې دا بلکې د بغلان هېڅ مشر موږ سره په لاريون کې نه وو ، خو ولس وو . ځوانان سوکه سوکه خبرېدل او پارېدل ، په دې ډول که پيسې نه وې ، خو بېلابېلې شونتياوې نورو ملګرو چمتو کړې .

کله مو چې د پل خمري په بازار کې شعارونه د بينرونو په بڼه چاپول ، نو د چاپ مرکز مسوول ( پوپليار ) له دې وېرې چې زيان ونه ويني ، د خپل مرکز نوم او نښې نښانې په بينرونو چاپ نه کړې . هره شېبه له داسې ناسيده ګواښونو سره مخ وو ، خو کار ته مو خنډ کېدای نه شول .

يو وخت راته محمداعظم الفت د بغلان د مشهور جهادي او ټولنيز شخصيت ښاغلي ( ملاعلم مطمين ) زوی او زموږ محصل چې وروسته په يوه چاودنه کې شهيد شو ( جنت يې ځای شه ) وويل چې په بازار کې نور بيرغونه نه موندل کېږي ، ځکه ټول ملګرو پېرلي دي او لاريون ته يې چمتو کړي ، په دې خبره مو ډېر د خوښۍ احساس وکړ چې داسې ورځ هم راغله چې ملي بيرغونه مو بازار کې خلاص کړل !!!

کله چې نور کارونه راټول شول بيا د ځای په لټه کې شولو چې کوم ځای کې لاريون وکړو ؟ د بغلان د يوه تن قومي مشر حاجي محمد حسن احمدزي په دفتر کې ناست وو ، چا يو ځای چا بل ځای ښوده ، خو په پای کې مو ( زمانخيل ) د راټولولېدنې او لاريون ځای وټاکه . دلته د دې سيمې د يوه استوګن ، يوه درانه او ځواکمن سړي ( ګل محمد ) ځانګړې مرسته او ډاډ د يادولو دي .

د لاريون په اړه مو د امنيې قومندان ښاغلي امين الله امرخيل سره تيليفوني خبرې وکړې او د هغه اجازه مو ترلاسه کړه او په ملي امنيت کې مو هم ځيني خبر کړل ، ځکه زموږ وېره له حکومته وه ، نه له مخالفينو .

د ۱۳۹۲ لمريز کال ، د ليندۍ ( ۲۲ ) د جمعې ورځ ماسپښين مهال مو د لاريون لپاره وټاکه او ټول ملګري مو وپوهول چې د جمعې ورځې لمونځ به د ( زمانخيلو ) په جومات کې په جمعه کوو او بيا به لاريون ته ووځو .

د ( زمانخيلو ) د جومات امام مو له وړاندې پر موضوع پوهولی وو ، چې هيله ده له خلکو سره يې بيا ياده کړي . مولوي صيب له خطبې وروسته خلکو ته يادونه وکړه او د سيمې له خلکو ، مشرانو او ځوانانو يې وغوښتل چې لاريون کې ورګډ شي . دلته دا يادونه هم اړينه ده چې نه يواځې د ( زمانخيلو ) بلکې د بغلان له بېلابېلو سيمو مشران او ځوانان راغلل چې شمېر يې سلګونو ته رسېده .

موږ د دې لاريون د خبري پوښښ لپاره د بغلان ټولې رسنۍ خبرې کړلې ، خو هېچا زموږ خبر وانخيست ، ځکه دا رسنۍ هم په هغه چا پورې تړلې وې چې دوی هم د ( دين او ملت ) او ژوندون تلويزيون مخالف وو ، يواځې زموږ ملګري او په پل خمري کې د ( افغان کېبل او چونغر راديو ) مشر ښاغلي ( رفيع وردګ ) لاريون تر پوښښ لاندې راووست او خپور يې کړ .

لاریون ډېر منظم پیل شو ، له لمانځه سمدستي وروسته ګرځنده لاسپیکرونه ، بیرغونه او ټول مواد چمتو او خپاره شول . په پیل کې د قرانکریم تلاوت ، بیا ملي سرود او ورپسې مشرانو او ځوانانو خبرې وکړې ، په پېژندپاڼو کې یې د ( دین او ملت ) له لیکلو او ژوندون راډیو تلویزیون نه خپل ټینګ ملاتړ څرګند کړ .
اوس د دې لیکنې پر وخت چې له لاریون نږدې څلور کاله تېر شوي ، ښایي زه د هغه وخت سمه انځورنه ونه کړای شم ، نه د هغه ډار او وحشت چې د حکومتي ترهګرو له لوري خپور وو او نه د هغسې خپسې چې پر ملت ناسته وه ، خو بیاهم میړني ولس خپل غږ پروته کړ او دښمن یې په هغه ځای کې وننګوه چې تل یې خپله سیمه او له یو موټې هېواده جلا بللې ده .

## زه چې کله مړ شمه !

میوند سرباز

ویل کیږي چې په نړۍ کې نږدې اووه ملیارده وګړي ژوند کوي خو دا ټول د انسانیت تر جوهر لاندې بېلابېل توپیرونه پالي . دوی په ټوله او هراړخیزه توګه سره هماندي نه دي ؛ په ځینو اړخونو کې کیدای شي ورته او یو اند ولري . د هېلو ، ارمانونو او غوښتنو سکاله هم همداسې درواخله . د انساني ټولنې هر وګړی بېلابېلې هېلې او غوښتنې لري او د هغوی د بشپړیدا هڅه کوي .

که دټولو خوځښتونو منځپانګه او زړه وګورو ، پایله یې د سوکاله او ښبرازه ژوند هیله او د دې هېلې پوره کېدل دي . ځینې په دې ګروهن دي چې ژوند همدلته دی ، همدا نړۍ ده ، جنت او دوزخ هم همدلته دي ، نورڅه نه شته . هېلې یې هم په همدې نړۍ پورې تړلې دي ، ټول اند او کړن یې پر دې راچورلي چې څه ډول پر دې نړۍ سوکاله ژوند ته ځان ورسوي ، د سوکالۍ په پېژند کې هم بشپړ یووالی نه شته .

ځینو دا نړۍ او ژوند هیر کړی ، په یوه بله راتلونکې تلپاتې ، ناپایه نړۍ او ژوند ګروهن دي ، هېلې یې هم په راتلونکې پورې تړلې ، په دې نړۍ کې د سوکاله ژوند هیله نه کوي . له ټولنیزو سکالو ځان ګوښه ساتي . ځینې بیا په دې او راتلونکې نړۍ او ژوند دواړو کې د بریا په هیله دي ، په دې مانا چې هلته او دلته په دواړو کې سوکالي لټوي . همدا زموږ هیله هم ده ، موږ چې کله د خپل خالق (ج) نمانځنه کوو په پای کې وایو ( الهم ربنا اتنا فی الدنیا حسنه و فی الاخرت حسنه و قنا عذاب النار) .

موږ په پورتنی دوعا کې له خپل الله ( ج) څخه لومړی پر دې نړۍ ، بیا د راتلونکې ناپایه نړۍ د سوکالتیا او له کړاوونو د ژغورنې غوښتنه کوو .

د دې نړۍ سوکاله او ښېرازه ژوند هغه دی چې د اسلامي شریعت په اډانه کې راټول وي . موږ په همدې شریعي اډانه کې د راتلونکې نړۍ سوکالي ګورو او د جنت د ترلاسي په هیله یو .

کله چې د دې نړۍ د هیلو ، غوښتنو او ارمانونو خبره کوو ، دا دومره دي چې پای نه لري ، په همدې هیلو او ارمانونو کې ډوب خاورو ته کوزېږو ، غوره هغه څوک دی چې هیلې او ارمانونه يې هم په شریعي اډانه کې راغونډې وي .

په دې کې شک نه شته چې زه به هم د ډیرو هیلو او ارمانونو سره ګور ته کوزېږم ، تل له خپل خالق (ج) نه غواړم چې داسې مرګ راکړي چې هغه زموږ د مسلمان افغان ولس په ګټه وي او د دوی په ننګ کې مړ شم ، که الله (ج) دا مرګ راپه برخه کړ ، ستره هیله مې داده چې افغان ملي بیرغ راته کفن او په مقبره باندې مې افغان ملي بیرغ ودرول شي ؛ د هغو وګړو او ملت بیرغ چې د اسلامي شریعت د پایښت او ټینګښت لپاره يې هر څه قربان کړل .

## ګیدړ ، د زمري په څېره کې

شکرالله مطمین

په نړۍ کې یوازې هغه ( ج ) ثابت او تلپلاتې دی ، چې نړۍ يې رغولې ده ، نور هر څه بدلېږي او ورکېږي . د نړۍ او انسانانو له پیدایښته راپدېخوا ، ډېر څه بدل شو ، لرغوني فکرونه ، لرغوني ښارونه ، په ټولیز ډول لرغونې ټولنه او انسانان اوس نه شته ، که پاتې هم دي ، بدل او اوښتي دي . ډېر داسې وګړي چې پرون يې له غروره ځان خدای ( نعوذ باالله ) باله ، نن خاورې او هېڅ دي .زموږ هېواد هم له دې بهیره وتلی نه دی او نه شي ، خو له نورې نړۍ سره په یو څه توپیر . ځکه دلته اوښتنې او راوښتنې ډېرې او چټکې دي .

هغه وخت چې د ۱۳۹۳ لمریز کال ټاکنو لپاره ، بېلابېل افغانان نوماندان شول ، ګورو چې د فرعون زوزات ( پنجشیریان ) پکې نه شته او که شته هم ډېر کمزوري اوله شمیره لویدلي دي .(پنجشیر ) د هېواد یوه ښکلې سیمه او د یوه ځای نوم دی ، د دې ځای اوسېدونکي ( پنجشیریان ) بلل کیږي ، په دې کې شک نه شته چې ډېر ښه وګړي به په دې ځای کې اوسېدلي او اوسېږي ، بلخوا د ځینو وګړو ګرمتیا په نوم ( پنجشیر ) پورې تړل هم راته غوره نه ښکاري ، خو د دود له مخې وړاندې ځو .

دا سیمه ( پنجشیر ) یو څو اورګډو ، کوړاندو ، ترهګرو ، دینپلورو او هېوادپلورو داسې بدنومه کړه چې اوس د ( پنجشیر او پنجشیریان ) کلمو په اورېدو ، یو وحشتناک انځور رامخته کېږي .

پنجشیریان یانې په هېواد کې د پخواني شوروي استازي ، د جهاد تر سپېڅلي نوم لاندې د کفارو استازي ، د روسانو او کمونستانو په لاس د میلونونو وژل شویو او معیوب شویو افغانانو په وژنه او ربړونه کې مرستیال ځواک ، د داکتر نجیب الله او ملګرو ملتونو د سولې پلان شنډوونکي او د داکتر نجیب الله د وژنې عاملین ، په کابل کې د شورای نظار تر نوم لاندې او بیا وروسته د شمالي ټلوالې تر نوم لاندې د بې ګناه وګړو قاتلین ، د افغاني ناموس او ملي شتمنیو لوټوونکي .

د همدې سیمې دوو وزیرانو ( عبدالله او قانوني ) په وسیله امریکایانو سره تړون وشو چې له مخې يې د هر افغان کور له اجازې پرته پلټلی شي .

د کرزي صیب په واکمنۍ کې د هېواد د ټولو بدمرغیو عاملین همدا پنجشیریان دي ، دوی د خپلې واکمنۍ او ځواک ساتنې لپاره هرڅه وکړل ، په هېڅ ارزښت او ویاړ ونه درېدل او هر څه یې له ځوکۍ قربان کړل . د ټولو دیني او ملي ارزښتونو او ویاړونو په قربانۍ سره یې وکولای شول ، له امریکایانو ستر دریځ او ځای (؟) ترلاسه کړي .
پښتون ترهګر ، طالب ، حزب اسلامي او مخالف شو او پنجشیریان اتلان . پښتون ژړل او دوی خندل ، پښتون بې کوره ، بې اوره ، او وږی شو ، ووژل شو ، بندي او سپک شو ، پنجشیریان د کورونو او بلډنګونو خاوندان شول ، وزیران او خانان شول . په افغانانو باندې یې هغه ځوک د ملي اتل په توګه وتپه چې لږ تر لږه په افغاني ژبه ( پښتو ) یوه جمله وینا او درې کلمې لیک نه لري . همدې اتل خپلو سرتېرو ته د هېواد له شماله د پښتنو د اېستلو روزنه او درسونه ورکول ، داسې درسونه او روزنه چې د اسلامیت او افغانیت بوی هم پکې نه وو .
له درنو لوستونکو سره به د دوی ( پنجشیریانو ) په اړه ډېرې بدې خاطرې وي ، خو افغان ولس ته هغه ورځ له یوه ناورینه کمه نه وه چې په چین هېواد کې د سیالیو پر وخت د افغان ملي سرود پرځای ، یوه سندره وغږول شوه چې ګمان کوم فارسي وه ، دا د دې لپاره چې یوه پنجشیري ( اخبر ) ته پښتو ملي سرود اورېدل ډېر ګران وو ، بیا یې د مشر روح نارامېده او ژمنو ته یې زیان رسېده .
پنجشیریانو امریکا ته د سرټیټۍ په پایله کې ستر امتیازونه ترلاسه کړه ، ارګ ، وزارتونه ، معنیتونه ، ریاستونه ، په ټوله کې لوړې ملکي او پوځي ځوکۍ . د نظام او واکمنۍ له نیولو وروسته ، خصوصي سکتور هم دوی ونیوه ، شرکتونه یې جوړ کړه ، د بهرنیانو او امریکایانو سترې پروژې هم ، دوی ترلاسه کړې ، اوس دوی د هېواد بډایه او شتمن وګړي دي ، خو کاشکې چې دنیا یې د ایمان په بیه ترلاسه کړی نه وای ! زه فکر نه کوم چې اوس دې داسې کوم پنجشیری وي چې په کابل کې کور ونه لري ، ډیر کم به یې بې موټره او بې ډالرو وي .
د دې ټولو جفاوو او ورانکاریو وروسته ، د ټاکنو په نوماندانو کې د دوی تت او پیکه شتون ، د دې شاهدي ورکوي چې افغانان د دوی په وړاندې یو شوي او نه پرېږدي چې دا ترهګره ډله نور په واک او ځواک کې پاتې شي . ډېر ژر به د دوی رسوايي او شرمېدل په ښېلابېلو بڼو وننګېرل شي او په پایله کې به دا ګېدړ چې ځو کاله یې ، د زمري په څېره کې خلک وویرول ، بیا ګېدړ شي .

## کرزی ؛ د نجیب پر لار

نجم الدین سالار

داکتر نجیب الله د هېواد وګړو ته نږدې ښه مشر وو ، خو کمونیزم او د خاد د بدنومې ادارې مشرتوب یې درنښت زیانمن کړی وو . دی هغه میړنی افغان وو چې د روسانو له وتلو وروسته یې وکولای شول د افغان ځواک په مرسته او ملاتړ له خپلو مخالفینو سره وجنګیږي .
ستره او تاریخي تیروتنه یې داوه چې د روسانو او کورنیو افغان دښمنه ډلو په وینا یې داسې پوځي جوړښتونه رامنځته کړه چې د هېواد لرکیو یې مشري کوله . دې پوځیانو د وحشت او دهشت په اچولو کې ستر ځای درلود . په همدې ترتیب روسانو ، ځینو پرچمي او ستمي مشاورینو د نجیب الله په وسیله په بیلابیلو پلمو په افغان ملي امنیتي ځواکونو

کې پښتانه افغانان لږ ، کمزوري او له منځه یووړل . په بېلابېلو ولایتونو کې د پوځي عملیاتو پر وخت پښتانه پوځي افسران د نجیب الله او دده د ډلې له خوا ووژل شول ، په ملکي برخه کې هم همدا حالت وو .
نجیب الله د کمونیزم او پرچم په میو مست غولېدلی ، په دې فکر کې وو چې پرچمي ملګري به یې تر تله ورته وفادار او صادق پاتې شي . د همدې ناوړې مفکورې له مخې یې پښتانه له ځانه لرې او ناپښتانه یې پیاوړې کړل ، خو د دې ټولو ارمان هغه وخت ورغی چې ناپښتنو پرچمیانو دی ګوښی پرېښود او دده د مرګ په لټه کې شول . دی دومره بیچاره شو چې په وروستیو کې د کابل د هوایي ډګر د امنیت لپاره یې هم څوک نه درلودل چې لږ تر لږه د ده د وتلو لپاره یې لاره هوارکړی وای . هوایي ډګر د ده د خپلو پرچمي ( دوستمي ) ځواکونو له خوا نیول شوی او ده ته یې اجازه ورنه کړه چې له هېواده ووځي ، په پایله کې یې ځان په دار کړ .
که نجیب الله پښتانه جنرالان او پوځي افسران د روسانو او خپلو پرچمیانو په لاربښوونه ګوښه او وژلي نه وای ، لږ تر لږه دومره میړانه به یې ورسره کړی وه چې د ده د وتلو لپاره یې هوایي ډګر خوندي کړی وای چې دی له هېواده وتلی وای ، خو چې څه یې وکړل ؛ بیرته یې ولیدل .
نجیب الله خو لاړ خپل فکر وخوړ ، پر مجددي او رباني خو د خبرو حق نه لرو ، ځکه د ارګ واک یې هم نه درلود او د واکمن پېژند ورکولای نه شو . ملا صاحب چې د ډېرو لږو پښتنو ملاتړ تر شا لري او ټوله نړۍ یې په مرګ پسې ګرځي ، نر غوندې ژوندی ګرځي او اوس هم په هېواد او سیمه کې واکمن دی . دی د نجیب الله په څیر ناپوه نه وو چې پښتنو افغانانو ته شا کړي او کمزوري یې کړي . په حکمتیار پسې هم د پښتنو افغانانو دم او دوعا ده چې سرشاره ګرځي .
موږ دا نه وایو چې ژوندي پاتې کېدل میړانه او اتلولي ده او مرګ نامیړانه ، انسان که د خپلو ارزښتونو لپاره ژوند له لاسه ورکوي ؛ اتل او تل ژوندی دی ، خو ژوند هم د الله (ج) ستر نعمت دی ، د پایښت لپاره یې باید پوره هڅه وشي . داکتر نجیب الله ته هم په کار وه د یوه واکمن په توګه لږ تر لږه د ځان ساتنې لپاره دومره پوه وای چې څه وکړي .
داکتر نجیب الله لاړ ، اوس دې الله (ج) وبښي ، که په کورنیو چارو کې یې پوهه لږه وه ، د بهرنیو دښمنانو لپاره پرې حساب کیده .

د طالبانو له راپرځېدو وروسته کرزی موقت ولسمشر شو ، دی په لومړي سر کې دومره بیچاره وو چې په میلونونو افغانانو کې یې څو تنه نه لرل چې ساتنه یې وکړي ، ساتونکي یې هم بهرنیان وو . کرزی ولسمشر شو ، شمالي ټلواله او هغه د نجیب الله قاتلین یې د حکومت مهم بنسټونه . هغه ټلواله چې موخه او تګلاره یې یوازې او یوازې د افغانانو او افغانستان بربادي ده . پښتانه تروړستان شول او له هر لوري تر برید لاندې ونیول شول . د کرزي حکومت چې چارې یې د امریکا او د هغې د انډیوالانو له خوا اداره او تنظیمېدلې ، په داسې جوړښتونو بوخت شول چې د افغان هېواد طبیعت ګډوډ کړي . د شمالي ټلوالې لنډغر یې د ملي اردو ، ملي پولیسو او ملي امنیت په نومونو په ملت واکمن او وروتپل چې همدا اوس یې هم نښې نښانې د ملي امنیتي ځواکونو په موټرو او په ملي تاسیساتو کې لیدل کیږي . داسې ښکاري چې ملي امنیتي ځواکونه او ملي پوځي تاسیسات ټول د جمعیت حزب اړوند دي . ځکه د همدې حزب د یوه پوځي قوماندان انځورونه پرې لګېدلي وي .

خبره راتېرولوم او هغه داچې کرزي صاحب خو دومره توره وکړه چې په څو کلونو کې يې خپل ساتونکي افغانان کړل ، خو له دې ډېر نجيب الله هم لرل .

په دا وروستيو کې د امنيتي تړون پر سر د امريکا او کرزي ترمنځ تاوتريخوالي ناوړه حالت غوره کړ ، د ځينو رسنيو له مخې ، تر دې چې امريکا د خپلو ګټو لپاره د کرزي د له منځه وړلو په فکر کې شوه ، داسې ويل کيده چې امريکا غواړي د خپلو وفادارو غلامانو او د شمالي ټلوالې د لنډغرو په وسيله پرکرزي کودتا وکړي .

ماته هغه د نجيب الله کيسه راپه ياده شوه چې کرزی هم ورسره مخ دی . پوځي برخه نږدې ټوله د هماغو ډلو او اشخاصو په لاس کې ده چې د روسانو په اشاره يې پر نجيب الله کودتا وکړه او اوس به د امريکا يانو په اشاره په کرزي کودتا کوي ، يو دينپلوری او ولسپلوری به امريکا سره د تړون لپاره تش په نوم ولسمشر شي او د کرزي صاحب برخليک نامعلوم دی چې ايا د يوه عادي وګړي په توګه به ژوندی پرېښودل شي او که نه ؟ ځکه امريکا د نړۍ ډېر ولسمشران ووژل ، د کرزي به څه پروا وکړي .

## ما وژغورئ !!

سناء اورياخيل

د ژمي ورځې وې ، سهار لمر ختلی وو ، سورګل د دندې پر لور روان وو . کوڅه له خلکو تشه وه ، په کوز سر کې يې دوه درې تنه سره ولاړ وو . ناڅاپه يو غږ شو ( د خدای لپاره ما وژغورئ ، چې مې وژني ) . سورګل سمدلاسه تومانچې ته لاس کړ ، مرمۍ له وړاندې تېره وه ، مخابره هم چالانه . سورګل د غږ لور ته مخ واړوه ، ګوري چې د يوه کورله وره نه په لړ واټن کې يوه انجلۍ رامنډې وهي ، پښې يبلې ، لوپټه پر غاړه او ډېره تربدلې ښکارېدله . پر کينې مټ ټپي او وينې ترې بهېدلې . د انجلۍ له څېرې او خبرو څرګندېدله چې ډېره ربړول شوې او ټکول شوې وه . يوه شېبه تېره شوې نه وه چې له هغه وره چې انجلۍ ترې راوتلې وه ، دوه تکړه چاړه په لاس ځوانان ، يو پوخ سړی او کوچنی هم راووتل . د انجلۍ لورته يې رامنډې کړلې ، انجلۍ د سورګل لورته منډه او ځان يې ورو ساوه ، ورته يې وويل ( ورورجانه ! ما وژغوره ، دا مې ورونه او پلار دی ، ما وژني ) سورګل سمدلاسه انجلۍ خپل شاته ودروله او خلکو ته يې مخ کړ ، په يوه تيز او ګوانښ غږ يې ورته وويل ( ځای پر ځای ودرېږئ ، ونه خورېږئ ) .سورګل ډېر احساساتي وو ، وينه يې په ځوښ راغلې وه او دانجلۍ معصوميت ورنه ځان هېر کړی وو . چړې پر لاس ځوانان ، پلار او کوچنی چې رنګونه يې تښتېدلي وو ، سخت ووېرېدل او ځای پر ځای ودرېدل . سورګل له دوی سره خبره اوږده نه کړه ، په مخابره کې يې له خپلو ملګرو د مرستې غوښتنه وکړه ، يوه شېبه تېره شوې نه وه چې ملګري يې راورسېدل . په دې وخت کې له هغه کوره چې دا انجلۍ ترې راوتلې وه ، يوه پخه ښځه هم راووتله . هغې هم چيغې وهلې چې د خدای لپاره لور مې وژغورئ !

سورگل او د ده ملگرو ټپي انجلۍ روغتون ته د درملنې لپاره بوتله او د انجلۍ کورنۍ یې د پولیسو ماموریت ته ورسوله . پوښتنې گروېږنې پیل شوې ، انجلۍ ویل چې تېره ورځ روغتون ته د خپلې کوچنۍ خور سره تللې وم ، ناروغه وم . روغتون کې داکتر نه وو ، ډېر وخت کښېناستو ، خو داکتر معلوم نه شو ، فکر مې وکړ چې نن داکتر نه راځي ، بېرته کورته راروان شولو ، په نیمه لاره کې وم چې داکتر په مخه راغی ، کوچنۍ خور مې پېژانده ، ماته یې وویل دا داکتر دی ، روغبړ مو سره وکړ او خپله ستونزه مې ورته وویله . داکتر وویل چې اوس خو ناوخته ده ، سبا راشئ .

موږ کوم بدمرغه کلیوال لیدلي وو ، زما پلار ته یې ویلي وو چې لور دې د یوه پردي هلک سره ولاړه وه . نن سهار مې چې کله پلار دا خبره یاده کړه ، ما ورته وویل ، هغه داکتر وو ، په دې خبرې سره مې مشر ورور وویل ، ته دروغ وایې ، وار و گوزار یې راباندې پیل کړ، نوره پر ځان نه پوهېدلم ، کور راته سور اور شو ، ځکه مې منډه کړه او له کوره ووتم . د انجلۍ ورونو ویل چې له پردیو هلکانو سره د پیغلو انجونو ودرېدل جرم دی ، زموږ ننگ او غیرت دا نه مني چې زموږ خور دې له پردیو هلکانو سره ودریږي او خبرې وکړي . د پلار خبره یې هم همدا وه ، خو مور یې ویل ، لور مې بې گناه ده . موږ دا موضوع راټوله او څارنوالۍ ته واستوله چې په پایله کې د انجلۍ ورونه او پلار بندیان او خپله انجلۍ بې گناه له مور سره کورته واستول شول .

## وطن یا کفن

توریالی توپان

د هر وخت او هرې واکمنۍ خپل خپل شعارونه او کارونه وي . پورتنی شعار هم د یوه وخت او واکمنۍ شعار دی ، خو نه مري او تل ژوندی دی . دا شعار په داسې یو وخت کې رامخته شو چې واکمن نظام خپلو دښمنانو سره په سخته جگړه اخته وو ، سرتېرو یې په سرونو سنگرونه ساتل ، ځوښ کړي ټیپر ، گلپیان او گاځرې یې خوراک وو ، خوب او ارام یې نه وو ، د کوچنیانو ، مور او پلار غم یې هم شاته غورځولی وو . هره شېبه یې د خپل سنگر ملگري خاورو ته کوزول ، وېره یې له سره ویستلې وه ، یوازې د سنگر ، واکمنۍ او هېواد ساتنه یې پېژندله او بس .

که څه هم یاد شعار د وخت پوځیانو راخپل کړ ، خو خپل اغیز یې په ملکیانو هم وښانده . دوی هم د پوځیانو په څېر په ډېره مینه او اخلاص خپلو دندو ته حاضرېدل او په یو جگړییز حالت کې د واکمن نظام چارې ښې پرمخ تللې . واکمن نظام د همدې او نورو شعارونو په ورکولو او پلي کولو ، خپل عمر کلونه اوږد کړ او خپل دښمن ته یې د برې مجال ور نه کړ .

پورتنی او دې ته ورته نور شعارونه ، هغه دي چې د هېواد وګړي ورته تل ژوره اړتیا لري او پلي کول يې د يوه بشپړ خپلواک هېواد او ملت زيرى دى . دا شعار بايد د هر افغان د ژوند تګلار او کړنلار شي ، که هغه د نظام پوځي يا ملکي کارونکی دی او که کوم عادي وګړی .

هغه واکمني چې پورتنی شعار يې رامخته کړ ، له منځه لاړه ، خو له بده مرغه چې دا سپېڅلې نښې او شعارونه هم ورسره له منځه لاړل ، هاغسې چې دا شعار له منځه لاړ ، هر څه له منځه لاړل ، ملي سياست ، ملي پوځ ، ملي اقتصاد او پانګه ، ملي کولتور او اخلاق او نور . ملي سياست ، تنظيمي ، ژبنی ، سيمه ييز او قومي شو . ملي پوځ هم همداسې درواخله . ملي پوځي او ملکي پانګه او وسايل کباړ او په پرديو وپلورل شول . ملي اقتصاد چې له وړاندې هم بې خونده وو ، لاپسې راټيټ شو ، کرګر ووژل شو او په ځمکه يې بمونه وکرل شول ، وياڵې ويجاړې شوې ، فابريکې ړنګې او چور شوې او ملي واټونه له منځه لاړل . ملي کولتور او اخلاق چې داهم له وړاندې له ګواښونو سره مخ وو ، تر پخوا ډېر تر يرغل لاندې راغلل او زيانمن شول . د دې ټولو سره سره ، بياهم له ايرو غمی راووت او نن هم يو ژوندی ملت او سرلوړی هېواد يو ، خو سفر لا پای ته رسېدلی نه دی .

زموږ واکمنۍ او ټولو وګړو ته ښايي پورتنی شعار په خپل فکر کې داسې ځای پر ځای او وګنډي چې تر مرګه يې تارونه ونه شلېږي . د همدې شعار په اډانه کې خپلې ورځنۍ رسمي او نارسمي چارې پرمخ بوځي . خپل وطن او ټول ارزښتونه يې په ورين تندي خپل وګڼي او د زړه له کومي يې د ساتنې او خونديينې لپاره متې رابډ وهي . هر ملت چې خپل هېواد ته درانه کتلي ، درانه دي او هر ملت چې خپل هېواد ته سپک کتلي ، سپک شوي دي . نن په نړۍ کې پرمختللي هېوادونه او ملتونه هغوی دي چې پورتنی شعار يې د خپل ژوند تګلار او کړنلار ګرځولي او چا چې پورتني شعار ته شاکړې ، در په در ، خاورې په سر ګرځي .

سرليکنه :

## د يوې تاريخي سيمې تاريخي اړتيا

بغلان د هېواد هغه سيمه ده چې خورا لرغونی تاريخ لري ، دلته د سره کوتل د لرغوني منځي شتون ، د دې سيمې د لرغونتوب غوره بېلګه ده . د دې ترڅنګ د ښېرازه ځمکو او کانو په درلودلو سره يې ، په اقتصادي او کرنيز ډګر کې هم خپل ځای جوت کړی دی . همدارنګه د هېواد د دوو سترو لارو او ورونو ( حيرتان او شيرخان بندر ) د تړون او يوځاينې سيمه ده ، چې ځينې يې د شمال ور هم بولي . له توکميز اړخه هم ، دا ولايت داسې يو بڼ ته ورته دی ، چې هر ډول

رنګارنګ ګلونه پکې شتون لري . چې یو یې هم پښتون دی . په ښوونیز ډګر کې هم ، دا سیمه ،که تر نورو مخکې نه وي ، نو پاتې هم نه ده .

د پورتنیو ټولو غوره ځانګړنو په درلودلو سره ، هغه څه چې لا پوخوالي او بشپړوالي ته رسېدلي نه دي ؛ رسنۍ او خپرنۍ دي .

درانه لوستونکي پوهېږي ، چې په هېواد د ناوړو شرایطو ، له کبله ډېرې رسنۍ ، د هېواد په پلازمینې پورې تړلې پاتې شوي او یا هم د هېواد په لویو ښارونو کې خپلې چارې پرمخ وړي . ګڼ شمیر سیمې او ولسونه ، داسې دي چې یا خو له رسنیو بشپړ هیر دي او یا ورته کمه پاملرنه شوې ده . دا هم بېلابیل لاملونه لري ، چې څېړل او سپړل یې ځانګړې موضوع ده . خو هر څه چې وي ، یوه لویه بدمرغي ده .

رسنۍ او خپرنۍ د ټولنیز شعور په پیاوړتوب او پراخوالي کې ستر رول لري ؛ هغه چې زموږ د ټولنې ستره ستونزه او نیمګړتیا ده . رسنۍ د ټولنې له اندیالو وګړو او ولسونو اختنه کوي او بیرته یې غبرګوي .

له بده مرغه د دغې سیمې ( بغلان ) ډېر وګړي او سیمې ، د هېواد د نورو وګړو او سیمو په څېر ، د برېښنا له نعمته بې برخې دي ، چې وکولای شي ژوندۍ یا برېښنایي رسنۍ ( رادیو ، ټلوېزون او انټرنټ ) واوري او وګوري . یوازې د پلخمري ښارګوټی دی ، چې استوګن یې له یادو اسانتیاوو ، څه نا څه برخمن دي . خو دلته هم تر ډېره بریده ، د پلازمینې او نورو سیمو رسنۍ خپرونې کوي ، پخپله د دې ځای رسنۍ ، د ولس په درد دوا شوې نه دي . دا چې ولې ؟ دا هم ځانګړې څېړنه غواړي .

موږ د پورتنیو ناخوالو او نیمګړتیاوو په پوهیدو سره ، وپتېیله چې د یوې داسې خپرونې بنسټ کېږدو ، چې د ولس د غوښتنو او ننګېرنو رښتینې هېنداره وي . له یوې خوا به د ولس د اړتیاوو پربنسټ ، داسې ښوونیز او روزنیز توکي خپروي ، چې دوی یې غواړي ؛ موخه مې د بېلابیلو لیکوالو لیکنې دي . له بلې خوا به د ولس منځته ورځو ، د دوی ورځنۍ ژوند ، جرګې مرکې ، پنځونې او نوربېلابېل توکي یې را اخلو او د لوستونکو مخته ته یې ږدو.

په پای کې د خپلو ډېرو کمزوریو او نیمګړتیاوو وړاندوینه کوو او هیله مو داده چې د دې سیمې لیکوال او قلموال ، له موږ څخه خپلې لیکنې او لوریینې ونه سپموي ، چې دا نوې رغېدلې او په سفر روانه بېړۍ تر ساحله ورسوو .

د ژوند بڼ مو زرغون اوسه

یادښت : پورتنۍ لیکنه مې د بغلان د ( تګ ) مجلې د لومړي کال ، لومړۍ ګڼې ( ۱۳۹۰ ) ته لیکلې وه .

## سوله ؛ د ژوند بنسټيزه اړتيا

سوله او جګړه دوه متضادې پديدې دي ، ځينې وګړي ، خپلو موخو ته د رسېدو لپاره سوله غوره بولي او ځينې جګړه .

جګړه هغه پروسه او دموخو د ترلاسي لاره ده ، چې په کې ښکيل دواړه لوري او ترمنځ يې بېګناه وګړي هم زيانمنوي . جګړه له وګړو ژوند اخلي ، ودانۍ او ښارونه ويجاړوي ، پرمختګ تموي او پر شا يې وړي ، ژوند ځپي او په ټوليز ډول د ژوند ټول اړخونه ترګواښ لاندې نيسي .

سوله د جګړې ضد پروسه او لاره ده ، د دې پايلې بيا د جګړې پر ضد دي . په دې پروسه کې ژوند په نورمال ډول وړاندې ځي ، که په جګړه کې ودانۍ او ښارونه ويجاړېږي ، په سوله کې رغېږي ، جګړه که په جګړه کې ښکيل دواړه لوري او ترمنځ يې بېګناه وګړي زيانمنوي ، سوله ټولو ته ګټه رسوي .

په کار ده جګړه د روا او مشروع موخو د ترلاسي لپاره وروستۍ هڅه وي ؛ لومړۍ بايد ټولې سوله ييزې هڅې وشي چې يوه روا موخه ترلاسه شي .له بده مرغه زموږ په هېواد کې ، ډېرى ډلې ټپلې او يا ځينې وګړي ، د خپلو موخو د ترلاسي لپاره تل په جګړه باور او پر سوله يې نه لري .

داچې هېواد مو د جګړې په پايله کې ويجاړ ، ميليونونه وګړي مو شهيدان ، ميليونونه معيوب ، ميليونونه کډوال او ډېر شمير کونډې او يتيمان راته د جګړې د ميراث په توګه پاتې دي ، هېوادوال مو له جګړې سخته کرکه کوي .هغه ډلې ټپلې چې د افغان ملت لپاره سياست کوي ، په کار ده ، د خپل ملت دا غوښتنه ، چې سوله غواړي ، په پام کې ونيسي او د سولې د ټينګښت لپاره خپلې ټولې هڅې په کار واچوي .

يادښت : پورتنۍ ليکنه مې د ( تګ ) مجلې د لومړي کال ، دويمې ګڼې (١٣٩٠) ته ليکلې وه.

# په شمال کې د پښتو ژبې د زده کړې پر وړاندې ننګونې

شاه محمود کډوال

پښتو ژبه د هېواد د ملي ژبې په توګه ، د تاريخ په په بهير کې له ګڼو ننګونو سره مخ وه ، چې بېلابېل لاملونه ځېړل يې خورا ډېرې پاڼې تورولی شي ، خو دا سکالو د افغان ملي تاريخ له يوه نوي پړاوه ترکتنې لاندې نيسو ، هغه هم د هېواد په يوه برخه کې .

له هغې ورځې چې په هېواد کې د نړېوالې ټولنې په مرسته ، وګړواک واکمنيز غونډال رامنځته شو ، په بېلابيلو برخو کې غوره او اغېزناک بدلونونه رامخته شول ، چې د افغان ولس غوښتنې يې تريوه برېده ځواب کړلې ؛ د پوهنې ، اقتصاد او پوځي ډګرونو بيارغونه او سمون يې د يادولو وړ دي .

که څه هم وړاندې يادې شوې ملي ژبې نه موخه داده ، چې ژبه د يوې ټولنې او واکمنۍ په ټولو برخو کې وکارول شي او کارورته وشي ، خو زه بياهم دا وينه د ښوونځيو په بريد کې راټوله ساتم .

درانه لوستونکي پوهېږي چې ښوونځي هغه ښوونيز ، روزنيز او زده کړه ييز منځي دي ، چې د هېواد کوچنيان پکې د ښې راتلونکې ، خپلو وګړو او هېواد ته د چوپړ په موخه روزل کېږي ، چې دا موخه هم د بېلابېلو لاملونو له کبله په سمه توګه ترلاسه شوې نه ده . ښوونځي چې د مور له غېږې راوروسته خورا بنسټيز او بشپړ روزنيز منځي دي ، په کار ده د هېواد وګړي او واکمن ورته ژوره پاملرنه وکړي .

زه چې د هېواد په شمال کې اوسم او ددغې سيمې په ژوندانه او ورځنيو چارو څه نا څه پوه يم ، په ښوونځيو کې د پښتو ژبې پرمخيون پر وړاندې ننګونې داسې رالنډوم :

لومړی _ په ښوونځيو کې د پښتو ژبې د ځانګوالو او مسلکي ښوونکو نه شتون :

پورتنۍ ستونزه يوه ډېره ستره هغه ده ، چې ښوونځي او زده کوونکي ورسره لاس او ګرېوان دي . ډېری ښوونکي هغوی دي ، چې مورنۍ ژبه يې پښتو او د ځينو خو لا پښتو هم نه ده ، خو ځانګيزه پوهه يې په يوه بله ځانګه کې ترلاسه کړې ده . دا ډول ښوونکي هېڅکله هم د پښتو ژبې ښوونيز بهير په وړه ، غوره او ګټوره توګه پرمخ بيولی نه شي . دوی د خپلې ناپوهۍ له لامله ، پښتو ژبې ته ګڼ زيانونه رسوي ، ډېر مسايل چې پرې نه پوهېږي ګونګ پرېږدي . په ناپښتني چاپيريال کې د استوګنې په ترڅ کې يې پښتو ذهني وييپانګه هم نيمګړې او ډېر پښتو ژوندي وييونه په مړو شمېري . له نورو سيمه ييزو ژبو سره د پښتو ژبې د پرتلې پروخت پښتو يوه نيمګړې هغه بولي .

دا چې په  دې سيمو کې ډېر ناپښتانه وګړي استوګن دي او ځرګنده ده چې په ښوونځيو کې هم ناپښتانه زده کوونکي دي  ،  خو بياهم ډېري زده کوونکي د بېلابېلو لاملونو له مخې خوښوي چې پښتو ژبه زده کړي  او ويې وايي . هغه ناځانګوال ښوونکي چې وړاندې ترې يادونه وشوه ، نه يوازې داچې د ناپښتنو زده کوونکو غوښتنې پوره کولای نه شي ، بلکې د پښتنو هغو هم پوره کولای نه شي  . زه د سکالو د روښانتيا لپاره يوه بېلګه راوړم  ، هغه داسې چې په يوه ښوونځي کې يوه زده کوونکي له ښوونکي پوښتلي وو ، چې  ( چهارمغز ) ته په پښتوژبه کې څه وايي ؟  ښاغلي ښوونکي ورته ويلي وو ، چې ( څلورمغز ) . د پښتو ښوونکو ناپوهاوی ، که له يوې خوا زده کوونکو ته زيان رسوي ، له بلې خوا د هېواد راتلونکې ته سترګواښ پېښوي . ددې ترڅنګ پښتو ژبه هم سپکوي  او زده کوونکي يې زده کولو ته پام نه کوي  . له بده مرغه  چې اوس  په ډېرو ښوونځيو کې  پښتو ژبه د سپورت  مضمون سره انډول او کله  يې ارزښت له هغې هم رالوېږي .

دويم  ـ د ښوونيزو چارو د سمبالوونکو نه پاملرنه  :

بله ستونزه چې پښتو ژبه ننګوي ، په ښوونځيو کې د پښتو ښوونکو نه ګمارل دي . په ښوونځيو کې د ښوونکو ګمارنه د کومې کره غوښتنې او اړتيا پربنسټ نه ، بلکې د بېلابېلو لاملونو له مخې  څوکۍ  ډکې  شوې دي . په هغه ځانګه کې چې اړتيا ورته نشته  ، ډېر ښوونکي ګمارل شوي . پروړاندې يې هغه ځانګه چې د ښوونکو له کمښت يا نه شتون سره مخ ده ، د ځانګوالو ښوونکو د ګمارنې په برخه کې يې پاملرنه شوې نه ده  او لا هم روانه ده .

دا په داسې حال کې ده ، چې  په دې سيمو کې د پوهنې وزارت له خوا ښوونکو ته ورکړل شوې څوکۍ هم نږدې ډکې دي .

يوه څرګندونه چې يادول يې اړين بولم  داده ، چې په هېواد کې د وګړواکې واکمنۍ له رامنځته کېدو  راپدېخوا د هېواد د نورو سيمو په څېر په شمال کې هم د پوهنې او لوړو زده کړو وزارت  پورې تړليو ، ځينو ښوونيزو او روزنيزو موسسو کې د پښتو ژبې او ادب ځانګې کار کوي  ، چې د پښتو ښوونکو د کمښت او نه شتون ستونزه يې څه نا څه بشپړه کړې ده ، خو په  وړ او اړمن ځای کې د ښوونکو نه ګمارنه د پښتو ژبې پرمخيون پروړاندې ستونزې جوړوي . ددې ترڅنګ يوشمير هغه ښوونکي چې  له پښتو ځانګو فارغ شوي ، خو په ښوونځيو کې د نورو مضمونونو په ښوونه بوخت دي ، په کار ده پخپله ځانګړې ځانګه کې ښوونه وکړي ، د ښوونيز چارو سمبالوونکو ته ښايي په دې برخه کې پام وکړي .

دريیم  ـ د ښوونيز غونډال نيمګړتياوې :

د پورتنيو ننګونو ترڅنګ بله هغه يې د ښوونيز او زده کړه ييز غونډال نيمګړتياوې دي چې سمون غواړي . د ناپښتنو کوچنيو او لويو زده کوونکو لپاره  ، د داسې کتابونو چمتو کول چې د هغوی له غوښتنو سره سم ، له يوې خوا د افغاني او

پښتنې ټولنې ښکارندوی او له بلې خوا غوره او ګټوره زده کړه ییزه بنه ولري . که څه هم دا سکالو اوس څه نا څه په پام کې نیول شوی دی ، خو ژور پام ته اړتیا لري . ددې ترڅنګ ، ښوونکي په هغو لارو چارو پوهول ، چې وکولای شي په ښه او اغېزناکه توګه زده کوونکو ته ژبه ور زده کړای شي . د ژبې د اغېزناکې ښوونې او زده کړې لپاره د مرستندویه توکو چمتو کول ، همدارنګه د ښوونځیو کتابتونونه په اړمنو پوهنیزو پښتو اثارو سمبالول ، چې وکولای شي د پښتو ژبې پرمخیون لا ګړندی کړي .

په پایله کې باید ووایم ، چې په ناپښتني په ځانګړې توګه شمالي سیمو کې د پښتو ژبې پرمخیون ته پاملرنه ، به ددې لامل شي ، چې د هېواد ګڼې ټولنیزې ستونزې له منځه لاړې شي او د ملي یووالي لړۍ به پیاوړې او اغیزمنه کړي . ګڼ شمیر هغه ناپښتانه زده کوونکي چې له پښتو ژبزده کړې سره مینه او لېوالتیا ښیي او ددې موخې د ترلاسي لپاره هڅې کوي د هغوی پوښتنې او غوښتنې به ځواب شي .

یادښت : دا لیکنه له بلخه خپرېدونکې مجلې ( پرخې ) په شپږویشتمه ګڼه کې خپره کړې ده. ښایي هغوی پکې ځینې بدلونونه راوستې وي ، ځکه ما سره اوس خپره شوې بڼه نه شته.